# پښتو اړرګاتیو ژبه ده

لومړی ځل او بنسټیزه

لیکونی: ډاکټر ماخان مېرِی شینواری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم: پښتو اېرګاتيو ژبه ده

ليکونکی: ډاکتر ماخان مېږی شينواری

خوروونکی: انجنير شمشاد زهير شينواری

د خورولو ځای: Ketabton.com

د خورولو کال: د مای مياشت ۲۰۲۵ ز. ک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د

لوي ښتن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په سپېڅلي نامه


د سرليکونو لړۍ
د سريزې پر ځا باندې ۱
له پيل څخه د مخه ۱
څه د مخه راوړنې ۲
خويوييونه او ستايېن نوونه ۴
ولې ليکو کړنوييونه او ... ۴
د ځنو ژبنيزو توکو پېژند ۵
غونډلجوړښت
پيل: پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده ۱۵
راځۍ چې پښتو په همدې لار... ۱۵
له ايرګاتيو څخه ژبلاريز
څه پوهېږو؟ ۱۷
په اړيکټينګوونو کښې د ... ۲۰
پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده ۲۰
پښتو ژبه دوه اړيکټينګووني... ۲۵
غوره يادونه:پښتو ژبه دوه ډوله... ۲۵
د اړيټينګوونو يا کازوس..... ۲۶
اړيکټينګوونی د اينکليتيکي او ... ۲۹
د وييونو نه ليکل يا حذف او... ۳۱
پوهېدنغزووني او پوهېدنوړوني.... ۳۵
بيا: له ويونو څخه تېرېدنه..... ۳۶
ولې دا ستونځې؟...... ۳۸
تکيه اړ او ځانيز نومځاينييوي ۴۰
اړيکټيکووني. څه تکرار ۴۵
د موږ ستونځې أهژبلار سره ۴۷
ګرانو ژبپوهانو مرسته... ۵۰
پښتو يوه ځانګړې............ ۵۵
پښتو او ژبلاريزې نا اوبی..... ۵۹
د پښتو ژبې وده
د پښتو پهژبلار کښې هغه...
بنسټيزې ستونځې...... ۶۱
په پښتو د اړيکټينګوونو سره..... ۶۱
ولې بايد د ما خبره سمه وي؟ ۶۳
کوم سم او کوم ناسم دی او..... ۶۵
ويناډولونه ۶۸
نيولوجېزم ۷۳
اکسومورون ۸۰
ژوند ۹۱
ستاينليکونه ۹۷


ګرانو لوستونکو! په ليکنه کښې به د تخنيکي ناسمو ليکنو بخښنه راته کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسریزې پر ځای باندې

گرانو هیوادوالو!

که د سریزه له ورسره بلدو سریزو سره توپیر لروده یا توپیر لري، نو بخښنه به وي او زه هم و همدې ته ځان داسې لږ اړ بولم.

# له پیل څخه د مخه

د پښتو د ژبلاریز سمې زده-کړې د ژبپوهانو لومړنۍ دنده ده او بیا یې د همدې سمې ور ښولو دنده ده. دا دې داسې لږ ستوغه خبره نه وي او دا خبره نو ولې کړم یا کوم؟

زه پر دې باندې باورې یم او دا مې ښوولې هم ده، چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده او چې څوک پر دې د پښتو پر اېراتیووالي باندې و نه پوهېږي، هغه د پښتو پر ژبلار باندې هم بیا نه پوهېږي یا نه شي پوهېدلی، ځکه چې موږ ډېر ناسمونونه د پښتو په کاز یا کېنز الماني یې کاسوس، چې پښتو انډول یې د روښانه پېژند له مخې څخه آړیکتېینګوونی دی او ما تر اوسه پورې ډېر زړه نا زړه حالت باله.

که رښتیا ووایم، زه نور لږ ستړی یم او دا سریزه هم نوره نه شم غزولی.

دا کتاب مې له هغوخورونو څخه را یوځای کړی، چې د دعوت په درنه خپرونه کښې مې خواره شوي دي، نو کېدی شي، داسې یو په بل کښې لږ ننوتي وي، خو دا بیا هم ژبه پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غښتلي کوي، د ما په اند به پروا ونه لري. دا کتاب او داسې کتاب په پښتو ژبه کښې د لومړي ځل لپاره ليکلکيږي، نو نابلدتيا به هرو مرو لري.

له ټولو پوهانو او په تېره بيا له ژبپوهانو څخه هيله: پوهنه د يوه ملت نه، چې د نړی د وګړو خاوندوالی دی، څوک يې يواځې خاوند نه شي کېدی او څوک دومره وربانديې نه شی پوهېدلی، چې پر ټوله پوهېدنه بانديې يې دعوه وکړي. په پوهنه يا ژبپوهنه کښې رقابت بايد نه وي، چې د ما خبره دې له ده او هغه څخه سمه وي يا دې نو په دې کښې بل څوک څه غواړي، بې له دې، چې دا يې په خپله کړنه کښې ښوولې وي. په يو څه ټينګار په کار دی، چې هغه يې سمون او ناسمون دی.

پښتو ژبه په ټولو پوهنو کښې ډېرې ستونځې لري، خو د پښتو ستونځې يواځې پښتانه اوبی کولی شي او له دې امله پښتانه پوهان و يوه ګډ کا ر ته سره اړتيا لري.

. څه د مخه راوړنې ۲ .

په هره پوهنه کښې سم او ناسم پژندلکېدی شي، نو پښانه پوهان بايد په ګډه په ځانکړې توګه د ژبپوهنې و سمون ته ملا راوتړي او څوک، چې فکر کوی، په ژبه کښې څه کړی شي، هغه مه ترې بې برخې کوی، دا د پوهانو پوهنيزه او اخلاقي دنده ده.

## څه د مخه راوړنې: اړيکټينګونې، چې اړيېنې راته برېښي

د کړونې اړيکټينګوونی: زه ځم، زه منې خورم

د پرېکړونې اړيکټينګوونی: پيشو زه وډارولم

د خاوندوالي اړيکټينګوونی: د ما کتاب سپين رنګ لري. سپين کتاب د ما لپاره راوړ. سپن د ما مخامخ ناست دی. د لته لپاره او مخامخ د خاوندوالي اړيکوييونه يا پسېځاينيوي دي.

د پسېځاينيو اړيکټيګووني: له يو څه څخه ( سره، کره،پسې)، په کور کښې، پر کور باندې، تر کور پورې، چې همدا اړونده نومځاينيوي تل له همدې پسېځاينيو يا اړېکنيونو پسې د اړيکټينګوونو جوړونې لپاره راځي. دا مې ډېر ځله ليکلي، چې د موږ ژبپوهانو د داسې ليکنو سره نابلده دي او دا ليکنې، چې ژبلاريز ډېرې اړينې او ترې تېرېدل يې ژبلار ډېره زيانمنه کوي.

دا به په دې بنسټيزه ليکنه کښې هم ښه څېړلشوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکیه-اړ یا کلیتیکي نومځای نیوي:

۱ -- پسېتکیه-اړ نومځاینیوي مې، دې، يې

--- روښانونه (روښانه-ونه): د مې(دې، يې) د کارولو ستونځې، چې کله د رکتوس او کله د اوبلېکوس په څېر کارول کیږي او کارونه يې د کړنوییونو او خویوییونو په واک کښې ده. کتاب مې واخست. دلته مې کړونی دی. کتاب مې شین رنګ لري. دلته کتاب مې دلته دا د خاوندوالي دنده لري او اوبلیکوس دی. ما کتاب واخست. د ما کتاب شین رنګ لري.

--- یادونه: پورته په ،،روښانه-ونه،، کښې دا کرښه په دې پوهېدنه ده، چې دا ،،روښانه،، د ،، -ونه،، سره تړلې ده یا یو ویی دی، ځکه چې په داسې ځایونو کښې په ،، ه،، پسې بل توری نه شی تړلکېدی.

<u>. په کړونې او ۳ .</u>

په کړوني او پرېکړوني کښې:

سپین مې وواهه. ( مې کړونی دی)

زه سپین ووهلم.( دلته مې نه راځي. بل ځانګړنوالی).

په اوس وخت کښې ګوره چې ،، مې،، نه راځي. دا ولې؟ دا همداسې ده.

کتاب مې سپین رنګ لري. دلته مې د کتاب خاوند دی. ډ خاوندوالي اړیکتیګوونی.

--- مختکیه اړ نومځاینیوي را، در، ور : دا مختکیه اړ نومځاینیوي

۱ – که د کړونوییونو د مخه راشي، نو هغه کړونوییونه لوریز دي یا لوریز وي، لکه تلل، چې ګورو دا کړنوی لوریز دی او همداسې يې بیا راتلل، ورتلل او درتلل لوریز دي. دا دلته د مخه سلېښ دي. ګوره دا ټوله د پښتو ژبلاریز پوره ځانګړنه ده، چې ګومان مې دی په بله ژبه کښې به نه وي.

۲ – دا که د پسېځاینیوو یا ښه يې اړیکوییونو د مخه وي، نو هلته د تکیه اړ نومځاینیوو دنده و سرته رسوي یا تکیه اړنومځاینیوي دي، لکه: (را،در، ور)( څخه، سره، کره، پسې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې، کښې،پورې)، چې له دې سره يې د داتيو کازوس يا د اړيکوييونو اړيکتينګوونی جوړ کړ، چې لرو:

--- له کور(يوڅه) څخه( سره، کره، پسې).

--- پر يو چا پسې.

--- په يو څه کښې.

--- تر يو څه پورې.

--- و يو څه ته.

يادونه: که دلته کوم يو اړيکوی له ليکنې څخه و غورځول شي، نو وبه لرو: لکه که په له کور څخه کښې يا په ور څخه کښې، که ،،څخه،، وغورځو، نو و به لرو: ،،له کور،، او همداسې ،، ور،،، دلته به نو يواځې همهغه نومو‌ييونه پاتې شي، چې نور څه به ونه وايي.

. ۴ ويوييونه... .

## --- خويوييونه او ستايينومونه؟ څېړنه يې.

د لاتين ادجکتيو، چې په الماني کښې يې خويوی بولی، په عربي کښې ورته صفت وايي، چې زه يې پر عربي ژبه پيژند باندې نه پوهېږم، خو د موږ پښتانه ژبپوهان ورته ستايېنوم وايي. پر دې باندې بايد هم وپوهېږو چې داسې څه ستايېننوم شته او که نه؟

پردې باندې هم نه پوهېږو، چې دا ستايېننوم به له ستايېلو څخه جوړ نوم وي او که څه چې خبرې پرې کوو يا د لاتين هغه ادجکتيو به نوم وي. دومره پوهېږو، چې هغه پښتو خويووی، خو خوی يې نوم نه دی هغه يې خوي دی، خو کېدی شي، نوم هم شي.

را لنډ به يې کړو:

خويوييونه: ، سپين، زېړ، جګ، غښتلی، ډارن،....

ستايينومنه: ستايينوم نه شته. ستايېل (کړنويی) شته، چې مخامخ يې غندل دي او نومونه يې ستايېنه او غندنه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځوک د خپل خوی له مخې ځخه ستايپل کيږي او يا غندل کيږي، لکه هغه يا سپينګل کاکا ښه سړی دی او هغه ورور يې تورګل کاکل لږ ډارن دی.

دلته ګورو، چې د خويوييونو ځخه خوينومونه هم جوړيږي.

لنډ: موږ ستايپل او ستايپنه لرو او ستايپننوم نه شته، خو خويوييونه او له دې ځخه جوړ خوينومونه شته.

## ولې ليکو: کړنوييونه يا کړلوييونه، نومويينه، خويويينه..؟

يادونه: دا موږ چې وايو، ،،کړ،، دا ګوره څه نه وايي. که وګورو: ،،تلل،، دا خو کړ نه دی او دلته يو څه کړلکيږي يا يوه کړنه و سر ته رسيږي. دا يو وی دی او له دې امله دا يو کړنويي يا کړلويې (پام دې ورته وي) دی، چې ډېر ګڼ يې کړلوييونه دي،نو: ټولې غونډلې له ويونو جوړې دې او هره پوهنيزه موضوع کښې د وييونو يوه ډله دننه وي، نو کړنه له يوې ډلې وييونو، لکه خوړل، تلل، پرېوتل او نور، دا ټول کړنويينه ده او همداسې نومويونه، خويوييونه، اړيکوييونه او نور.



ژبه له وييونو ځخه جوړه ده او دې وييونو کښې کړنوييونه، نومويونه، ...هم دي، چې له دې امله يې داسې نوموني.

**--- کړنوييونه په دوه ډوله دي:**

--- هغه کړنوييونه، چې کړونی نه لري، لکه ځم.

--- هغه کړنوييونه چې کړونی او پرېکړونی لري، لکه خوړل، اخستل کښې لکه زه منه خورم، زه کتابچه اخلم.

--- په پښتو کښې کړنوييونه نه ښه بدليږي، هغه د پوهېدنغزونو يا د پسې تړلو مورفېمونو په مرسته پوهېدنغزيږي. دا تړنوييونه دي: -م، -ې،-ي..

خويوييونه: په پښتو کښې هم ښه بدلېدنه نه لري، جګېدنه لري.لکه ډېر.خورا ډېر او زښتډېر. سپينچک ګوره د سپين خوی بل ډولولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومویيونه هم په پښتو کښې ښه-بدلېدنه نه لري، خو انډول يې د اړونده مورفېمونو سره پوهېدنه وروړل کيږي، لکه، له، په، پر، تر، و، سره د اړونده پسېځاينيو يا اړيکوييونو سره، چې دا د کتاب په دننه کښې روښانه شوي او ځنې يې بيا د پوهېدنغزوونو يا پسي تړلو سره پوهېدنغزيږي، لکه زړه، زړه-ور، لوي، لويوالى او نور. دلته دې و د پښتو ټولو ځانګرتياو ته هم فکر وکړی.

دلته خو همدا لنډه راوړنه موخه وه. په دې يا د ما د نورو ژبپوهني په کتابونو کښې غزېدلي روښانه شوي دي.

## د ځنو ژبنيزو توکو پېژند:

دا چې د پښتو ژبپوهانو له خوا څخه د ځنو ژبنيزو توکو روښانه پيژند نه شته، نو له دې امله مې د ځنو لپاره دا پيژندونه بيا بيا راوړي، هيله ده، چې شتړي مو نه کړي. که د ليکنې په ترتيب کې مو ناسمون سترګو ته کېده بخښنه به وي، خو دې پيژندونو ماته پوره خوند راکړ.

وی څه شی دی؟

<u>. د ځنو ژبنيزو توکو ۶ .</u>

وی يو خپلواک ژبنيز يووالی( ناسم يې واحد) دی. په پيداېښتي ژبه کې دا – د غږ يا سيلبې مخامخ- يو خپلواکه يا ښه يې نااړونده مانا لري. يو ټوليز منل شوی پيژند نه شته او ستونځمن هم دی، ځکه چې دا د کليمه ،، وی ،، د ژبپوهانو منځ کې يا پوره اوبی نه ده او يا يې په بل څه يادوي . ګومان مې دی يو فرانسوی ژبپوه د ،، وی،، په ځای ساده ،، نخښه،، کاروي. دلته هم د ليکلو او روښانه ونې، ښه يې څېړنې و څېړنې ته اړتيا شته او په نورو ژبو کې خبرې پرې شوي نورو ژبوکې يې وګوری..

کلمه څه شی دی؟

کلمه انګرېزي او الماني يې trem; Begriff ;

د ويي ،، کلمي ،، سره د يوې نخښه ونې يا يوه اندلرنې يا حدث وهنې مانامنځپانګه ويل کيږي يا پوهېدل کيږي. يوه کلمه يو سيمانتيکي يووالى جوړوي، چې د يوه نومځاينيوي يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه اند برخه ده. دا هم همدومره. پوهېږم، چې دا څه همدومره روښانه کولی شم، ډېر وخت نیسي، چې دا و سرته رسوم. ډېر نه دی، خو ورسره بوختیا باید زیاته وي ( په بخښنه).

غونډاله: یا غونډله یوه غونډاله له یوه یا ډېرو ویونو جوړ رابند ژبنی یووالی دی. د غونډالکلیمي پېژند له بېلابېلو لیدلورو ورکړ شوی دی، چې یو بل سره نه پټوي یا ښه یې نه پوښي. په ټوله کې یوه غونډاله له ژبپوهنیزې لارې، د یوه ستر یووالي په څېر، پيژندلکېدی شي، چې د سینتاکس(پېژند یي ورکړل شوی) له لارې ورکول کېدی شي.ځني څرګندونغونډاله د خبرو اترو.کمونیکېشن) د خورا کوچني د پوهونی یووالي پېژندل کیږي. خبرکړنې(خبراکت) په څېرمنځ ته راتلی شي، له بل انده څخه دلته د څرګندونې کلمه کارول کیږي.

د غونډالي کلمې ټاکلو لپاره ډېرډوله لیکنې یا اندونه شتون لري، چې د ټولو یوځایکونه نږدې ۲۰۰ ته د غونډالي پېژندونه رسیږي. هرژبنی ښوونځې خپله ځانله د غونډالي پېژند منځ ته راوړي. بېلا بېل سم اندیز، فلسفی، د خبرو اترو پوهنیز او ساپوهنیز اړخونه لږ یو بل سره یوغګیزکوي لیدل کیږي. ورته نیولکیږي، ، چې د نخښونو پسې غونډاله یوه یواځنی کلمه ده، بلکه یوه ټوله کورني، چې یو بل سره غوځووني یا ګډغوځوونکې ـپه دې مانا چې ګډ څه سره لري) ځان پسې لري.

کلمه

<u>. د ځنو ژبنیزو توکو ۷ .</u>

۱ . ۱ <u>Definitionsbefund</u> پېژندپیداکونه

<u>1.1.1Schulduden</u> د ښوونځې دودن

<u>1.1.2Duden-Grammatik</u> ګرامر دودن -

<u>1.1.3Satz als Subjekt- und Prädikateinheit</u>

غونډاله د سبجکت- اوپرېدیکات په څېر

<u>1.1.4Satz als Rede- oder Textelement</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډاله د خبرو- یا لیکنتوکي په څېر

1.1.5Satz als kommunikative Einheit

غونډاله د خبرو اترو یووالي په څېر

دا موضوع نوره نه غزوو، که څه هم ډېره خوندوره او په زړه پورې ده.

د پېژند پیداکونه : دلته کېدی شي د غونډالې یوڅو خواره شوي پېژندونه بېرته ورکړی شي:

د ښوونځي دودن ـ( دودن د الماني ژبې شننیزه کتابونه دي، چې په هره څانګه یانږدې په هره څانګه کې یې لري): د غونډالې د ښوونځي دودن پېژند دی: ،، ژبه یو رابند ژبني یا تړلی یووالی دی، چې له کوچنیو یوونونو( ویونه او ویونډلې یا – ګروپونه) یوځای( اینښوول) شوي،،

دا چې غونډالې د یوه وي سره شتون لري( بېلګه ی :څه! دا که غواړی و ما ته یواځنۍ بېلګه بېښي)، نو کېدی شي د یوې داسې غونډلې پېژند د ویي څخه توپیر ونه لري. یا

توپیر نه شو کړی. دا هم روښانه نه ده،، جې ژبني یووالي لاندې څه پوهږو. یوه ویډله (سنتاګما) هم په خپل دننه کې هم رابند یا پوښلی ژبني یووالی دی. نو له دې امله په پورته پېژند کې دویونو پسې راتلنه یا تعقیب په خپل دننه کې یو ژبنی رابند یا پوښلی یووالی دی



له دې سره پورته پېژند د ویونو موخه-ور پرلپسې (راتلنه) ،، په خپل دننه کې یو رابند ژبني یووالی دی.،، یو په خپل دننه کې رابند ژبني یووالی، بې له دې چې د بېژند له مخې روښانه وی، چې د څه له امله یا کومې لارې یوه داسې ویډله دې ځان له یوې غونډالې سره بېل کړي.

غونډاله ستر یووال یا یوون (واحد ناسم دی) دی، چې د سینتاکس له لارې جوړېدی شي،،

د بلومفیلد پېژند له مخې څخه: غونډاله،، د خورا لویې خپلواک سینتاکتیکي بنې په څېر ، چې د خپلې لوري د هیڅ ګراماتیکي جوړښت په یوه خورا لویه سینتاکتیکي بڼه کې خوندي نه ده. ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دودن ګرامر: د دودن ګرامر زیات غونډالپېژندونه راته وړاندې کوي:

،، یوه غونډاله یو پوښلی یا رابند یووالی دی، کوم چې د سنتاکس له لارې جوړ شوی دئ

یا ښه یې: غونډاله د وییونو موخورځنګ پر څنګ باندې اېښوونه ده

موږ نا پوره غونډالې هم لرو، چې په لاندې ډول یې لږ روښانه کوو: ناپوره غونډالې :

د ،،غونډالې،، کلیمې لاندې نا پوره غونډالې هم راځي، نو داسې غونډالې چې د هغوي اړتیا له مخې یا اړینډوله د غونډالې یو یا ډېر غړي نه وي. بېلابېل تیوپونه سره توپیرېږي:

Anakoluth[on] (= Satzbruch غونډالماتېدنه

،، په څه مو غوښتل بیا... هو بیا مې په یاد راغلل:دا د پرون لوبې په هکله.،،

یوه پیچلې غونډاله دغونډاللړی او غونډالزیاتونو سره سړی یو غونډالراګرځېدونکې هم بولې.

غونډالې کړی شي د یوه یوه تړوني( سنیدېتیک) یا د ډېرو تړونو (پولسیندېتیکي) یا بې تړونې( اسیندېتیکي) یو د بل سره وتړل شي.

Beispiel:سیندېتیکي:

.

. د ځنو ژبنیزو توکو ۹ .

سیندېتیکي: ،، زه راغلم، ما وکتل او زه بریالی شوم،،.

پولیوسیندیتیکي: ،،زه راغلم او ما ولیدل او زه بریالی شوم،،.

اسیندېتیکي: ،، زه راغلم، ما ولیدل، زه بریالی شوم

نومیزه غونډاله، چې ډېر وخت ترې یا ورڅخه ( له دې څخه) غونډالې بې له مرستندویکړنې دي پوهیږو.

بېلګه: ،، ښځه لاړه، پیسې لاړې، کور لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له انسانانو څخه ويل کيږي يا له انسانانو څخه خبرې وربانديې کيږي يا

يوه زېږېدلې ژبه، چې له يوه نا لاربنود شوي ودې څخه ومنځ ته راغلې وي.دلته به دې ته هم ګوته ونيسم، چې،.ژبه -لکه چې څنګه يې زموږ ژبپوهان وايي- معامله نه ده پيداښت دی. د ژبې نور ډولونه، لکه جوړې شوې يا مصنوعي ژبې، هنري ژبې، د نخښنو ژبې او نورې شته، چې موږ يې نور د څېړنو نيت نه لرو..، بيا: چې له پيداښتي ژبې څخه غږيږو، نو له دې سره جوړه پوهېږو، چې ژبه قرارداد نه دی، پرته له موږڅخه و منځ ته راغلې هغه ويونه، چې په پيداښت کې په ژبه کې نه و، خو موږ له دې سره مخامخ نه يو، له دې سره پرمختللي هيوادونه مخامخ دي، چې هغوي نوي څه منځ ته راوړي

ټوليز پېژند يا غونډالجوړښت ښونه:Syntax د سينتاکس د سينتاکس لاندې سړی د غونډالو جوړونو ښوونه پوهيږي. دا کره کوي ، چې څنګه له يوګونو برخو- ويونو - موخه ورې غونډالې جوړيږي - د سينتاکس لاندې سړی يوځای ابښول شوی پيداښتي يا جوړښتيز نخښنه سيستم په ټوليزه توګه ساده نخښنو ته ګډوله لارسيستم پوهيږي

دا لاندې ليکنه، چې الماني ژبې په مرسته ليکل شوې وګوری، چې د پښتو سره سرخوري او که؟ او که نه نو په ګډه يې راسمولی شو.

د غونډالو جوړښت

غونډالې د ژبې د توکو له يوځای موخه-ور يو ځای ابښوولو څخه جوړيږي.

.

. د ځنو ژبنيزو توکو ۱۰ .

ګډوله غونډالې- پيلونه

يوه ګډوله غونډاله له دوه يا ډېرو پوره غونډالو جوړه ده، چې هغوي يو د بل سره تړلې ، سم انديز خپلواکې غونډالې دي، چې ګډه موضوع لري او تړنويونو،، او،، او همداسې ،،يا،، سره تړل کيږي. دا ډول غونډالتړنه تنظيم شوې ( بنستغونډاله يا اصلي غونډاله) تړنه بلل کيږي. تړنويونه ( د بېلګې په توګه يا، او) سړی منظمکوونکي تړنويونه بولې.

بېلګه: او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین له ننګرهار څخه راځي. خوړه له خوست څخه راځي..

سپین له ننګرهار څخه راځي او خوړه له خوست څخه راځي

زیات وخت د دوه غونډالو منځ کې یوه سم اندیزه تړنه شته وي یا شتون لري.

په لاندې بېلګه کې دویمه غونډاله د لومړۍ غونډالې له پاره یو لامل دی او لومړۍ غونډاله د دویمې غونډالې یو سم اندیز پسې رتلنه یا پرلپسې ده.

بېلګه: پرلپسې( تعقیب) – لامل

هغه نه راځي. هغه ناروغ دی. د دوه غونډالو سم اندیز ګډاړیکوالی د دوه تړنویونو له لارې جوړېږي. سړی کړی شي د یوه سم اندیز دلیل-پرلپسې-اړیکې د بېلګې په توګه تړنویونه (ولې) چې، له دې امله، ، ځکه چې) و کاروي.

بېلګه:

دا(ولې) چې: هغه نه راځي، دا (ولې)چې هغه ناروغه دی

له دې امله: هغه ناروغه دی، له دې امله هغه نه راځي.

ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغه دی.

.

.

. د ځنو ژبنیزو توکو 11 .

تړلشوې غونډالې د یوې کوما له لارې سره بېلیږي ( ما ،، ، ،، بېلېد نخښه بللې. تړنویونه لومړۍ او یا دویمۍ غونډالې پورې اړه لري. هغه دا غونډاله ،، په نخښه،، کوي. سړی کړی شي د ځنو تړنویونو له لارې( د بېلګې په توګه ځکه چې( د غونډالو لړۍ پرلپسې سره بدلې کړي، د ځنو سره نه ) د بېلګې په توګه داچې، له دې امله).

بېلګه: ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دئ.

ځکه چې هغه ناروغ دئ، هغه نه راځي.

بنسټغونډال – او څنګیز غونډالتړنه

تړنويونه د کړني یا کړنځای ټاکي. د کړنځای ټاکنې پسې سړی کړی شي د سم اندیز غونډالتړنې دوه اریز- یا اصلي ډولونه سره بېل کړي:

لومړی داچې تړنه، چې په هغې کې کړنه په یوه غونډاله کې په اخر ځای کې ولاړه وي( که غواړی: ځاي په ځای وي). د تړنې دا ډول څنګیز غونډالتړنه بلل کیږي یا سړی دا ډول تړنه څنګیز غونډالتړنه – یا نیممنظمه تړنه بولې. تړنويونه سړی نیممنظمه تړوني بولې.

بېلګه: ځکه چې( څنګیز غونډالتړنه= کړنه په پای کې)

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دئ.

په الماني ژبلار کې.

دویمه تړنه، چې په هغې کې کړنه یا کړنوی، چې د هغې سره په دواړو غونډالو کې په نورمال ترنځای ۲ کې ولاړ وي. دا تړنه ادوربال(یا ارجمله) تړنه بلل کیږي.

الماني یې:

(Beispiel: *deshalb (Hauptsatzverbindung = Verb in Position 2*

.

.



.Er ist krank, *deshalb kommt* er heute nicht

که دا پورته په الماني ترتیب وژباړو، نو وبه لیکو: .

په سمه پښتو کې: دا په پښتو کې هم ورسره بلد ځای کې راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګه: له دې امله:

هغه ناروغ دی، له دې امله هغه نن نه راځي.

الماني ګرامر کې:

بېلګه:

Beispiel: *denn (Hauptsatzverbindung = Verb in Position 3)*
.Er kommt heute nicht, *denn* er *ist* krank

په پښتو کې دا هم په هغه د پښتو ګرامر ور سره بلد ځای کې راځي.

بېلګه: هغه نن نه راځي، دا چې ( ځکه چې) هغه ناروغ دی.

په پښتو کې،، دا چې،، او ،،ځکه چې،، زما په اند همغه یو ډول دي او که څنګه؟

تړنوییزې ویېنې یا افادې

سړی کړی شي د غونډالو یو سم اندیزه تړنه د تړنویونو له لارې ووایي یا افاده کړي. له دې سره یوه برخغونډاله نومیزه کیږي او په یوه تړنوییزه ویېنه یا فاده کې په یوه غونډاله کې ورګډیږي.

بېلګه: ځکه چې – له دې امله چې

څنګیزغونډالتړنه: ځکه چې( دا چې ) هغه ناروغ دی، نن نه راځي

تړنوییزه ویېنه: د هغه د ناروغتیا له لامله څخه هغه نن نه راځي.

.



تړنوییزه ویېنه کې په غونډاله کې د کوما له لارې بېلیدنه نه راځي.

دا د پیل راوړنه دې تر دې ځایه پورې بس وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- په ژبه کښې د سم یا موخه-ورپيژند لرنې څخه پرته توکلې وييونه مه وراچوۍ، لکه ،، کچه،، چې ګومان مې دی و پيژند ته يې د مورِ ليکوالان هېڅ پام نه کوي و سرک ته هم کچه ور اچوي او ليکي:،، د سرک په کچه،،، دا به نو څه شی وي، يا همداسې په دولتی، کليوالي او رسمي کچه. ستره ليکنه ورباندې شته.

--- په ژبه کښې هم چې جوړښت يې سم انديز دي، سم انديزې ليکنې هم اړيېنې دی. دا دې يواځې د ژبپوهان دنده هم نه وي.

د بېلګې په توګه: که ولرو: سړ کال تر ټولو ډېر انګور شوي دي. پر دې باندې بايد هرڅوک وپوهېږي، چې دا څه نه وايي. يا ر ډېره بريډه. ډېر بری نه شته، خو ډېر بربېدونه شته.

## هيله: په ليکه چې تکرار شته، د هغې کتل و ما ته ښه برېښي، هيله ده ر سره ونه څورېږي.

ـ

ـ

ـ

ـ

ـ

ـ

ـ

ـ



## پيل: پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده، له دې سره، چې دا مې پوره تر توانه پورې دلته ښوولې- د ژبلار سره سم- ، نو د پښتو دا تراوسه پورې ژبلار، نوره بايد پوره او په همدې موخه لوريزه شي او د ژبپوهانو مخه بايد ورته راواړول شي. د ما په ښوولو او ښووندول کښې به بدلون راشي، خو دا يوه ايرګاتيو ژبه ده او ژبلار يې هم د ايرګاتيو ژبې دی، په دې کښې به څوک څه ونه شي ويلی، نو

## **راځۍ، پښتو په همدې لور معياري کړو او وده ورکړو.**

پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده او په دې چې څوک ونه پوهېږي، د پښتو ژبلار پر لار باندې هم سم – يا ------هېڅ- نه شي پوهېدلی. دا به سره په ګډه وښايو.

يادونه: زه په پښتو ژبه کښې کوم لاسوند نه لرم، خو دا څه چې زه ليکم او يا مې تر اوسه پورې ليکلي، دا د ښونځي له سويې څخه جګ نه دي، نو ګومان مې دی، لاسوند به ورته اړتيا ونه لري او که داسې نه وي هم، نو دومره اخلاق به ولرم، چې هيوادوالو ته به د ما په اند يو ناسم څه نه وړاندې کوم او نه به پر دې ليکنو باندې څوک زوروم او يا به له چا سره سيالي کوم او يا به مې موخه ځانپالنه وي.

په دې به بيا هم ټينګار وکړم، چې د پښتو ژبلار پرته له دې، چې و پوهېږو پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده، بله لار نه شته او پرته له دې به يې سمه څېړنه ناشوني وي، چې ما په خپلو ليکنو کښې ښوولې او پوره روښانه کړې او دا له څو لارو څخه، چې په ژبلار باندې دا لارې تکيه دی.

څو پلونه و مخ ته ځو يا څو موضوعات په ګوته کوو، چې که دلته مې غزولې ليکنه پرې نه لروده، خو په نورو ليکنو کښې مې شته:

۱ – د ا ښوونه، چې پښتو اېرګاتيو ژبه ده:

پر دې باندې بايد هر ژبپوه وپوهيږي او همداسې يې بېرته ژبپوهنيزه ور کړي. ۲
– په همدې بنسټ پښتو – چې مور يې ليکو- ترانزتيو ورب نه لري او همداسې سبجکت او ابجکت او اکتيو او پاسيو هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته باید ګډ فکر وشي، دا و ما ته اړيین برېښي، خو انډول يې هرو مرو شته.

۳ – د کړنوییونو ګردان یا بڼه-بدلون په پښتو کښې نه شته

۴- د نوموییونو بڼه-بدلون په پښتو کښې نه شته

۵ – د خویوییونو بڼه-بدلون په پښتو کښې نه شته

۶ – پسېځاینیوي یا اړیکوییونه او دنده يې اړیکې دي: لپاره، څخه،سره، کره ...

یادونه: پښتو مخځاینیوي یا پرېپوزېشنونه نه لري.

۷ – مورفېونه. هغه غوره يې: پوهېدنوړوني له، تر، پر.. او پوهېدنغزوني یا سفېکسونه

۸ - اړیکټینګووني او همدا يې دندې دي. ما د مخه حالت بللی اود موږ ژبپوهانو، که داسې کله رایاد کړي وي، نو پېر يې بللي، خو د دندې له مخې دا د وییونو په منځ کښې اړیکې ټینګوي، چې له همدې امله يې دا نوم کېدی شي.

د موږ یوه ستره ستونځه نابلدتیا ده، چې دا د ژبې وروسته- پاتېوالی دی او هر څه يې را ته ستونځمن کړي دي، خو دا چې له خپلې ژبې او د هغې له وییونو سره بلد یو، ورسره بلدېدل يې دومره ستونځمن نه دي. اول پرېپوهېدل، بیا بلدېدل.

پښتو ژبه ډېرې ځانګړتیاوې لري، نو له دې امله له نورو ژبو څخه سخته او د پېچلي ژبلار لرونکې ژبه ده، چې دا د ما په لیکنو کښې روښانه کوم..

## له الماني سره يې پرتله کوونه

زه غوښتوني دا لاندې الماني په پښتو نه ژباړم.

الماني ژبه څلور کاز، کاسوس یا بڼه يې اړیکټیګووني case & Kasus لري، بڼه بدلیږی یا فلکتیرن کیږي او له پښتو سره يې پرتله کونه:

یادونه: له الماني پسې بیا پښتو راځي.

den Nominativ, 1. Fall, Wer/Was-Fall

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی:په پښتو کښي دا د کړوني اړيکتيېنګووني. د څوک، چا، څه. دلته ګوره نوميناتيو نه شته. دلته کړونی دی. دلته ګوره دا پوښتنځاينيوي درې دي او دا هم د اوسمهال لپاره. دا په وروسته ليکنه کښي روښانه شوی.

دويم: د نه کړوني اړيکتيېنګووني.  دا په درې ډوله دی:

دويم ۱ : د پرېکړوني اړيکتيېنګووني.  چا، څوک، څه. دلته ګوره چا او څوک ځايونه سره بدل کړي دي. وروسته روښانه کيږي.

دا ګوره پرېکړونی دی، چې الماني يې نه لري.

den <u>Genitiv</u>, 2. Fall, Wes(sen)-Fall

دويم۲ : د خاوندوالي اړيکتيګووني. د چا، د څه. دا په پښتو کښې هم لرو.

den <u>Dativ</u>, 3. Fall, Wem-Fall

دويم۳ : د داتيو يا اړيکوييونو حالت. له-، په-،پر- و- تر-.  ترچا، تر څه، په چا، په څه او ..... دا هم په پښتو کښې لرو، خو دلته له پسېځاينيو، څخه، سره، کره، او پسې سره، ګورو چې پښتو مخځاينيوي نه لري.

den <u>Akkusativ</u>, 4. Fall, Wen/Was-Fall

اکوزاتيو حالت: پښتو اکوزاتيو ژبه نه ده

په لاندې کښې يې په الماني ژبې بېلګه

*“.Die Frau gibt ihrem Bruder den Hut ihres Mannes„*

*Die Frau* das <u>Subjekt</u> (im Nominativ),gibt(transitiv verb) *ihrem Bruder* das Dativ-<u>Objekt</u> (= Ergänzung im Dativ), *den Hut* das Akkusativ-Objekt (= Ergänzung im Akkusativ) und *ihres Mannes* das .(Genitiv-Attribut (= Ergänzung im Genitiv

(c) ketabton.com: The Digital Library

.



پښتو يې: ښځه(کړونې( دا په الماني کښې سبجکت( په نوميتاتيو کښې) دی)) و ورور ته( داتيو يا د اړيکوييڼو اړيکتينګوونی دی) د هغې( خاوندوالی) د مېړه(خاوندوالی( دا په الماني کښې اکوزاتيو وو او په پښتو کښې خاوندوالی دی ) خولې( پرېکړونی يا شی) ورکوي( کړنويي، چې کړونی او پرېکړونی لری).

په يو ځه، چې يو ځه و سرته رسيږي، نو هغه پر يو ځه باندې کړنه ده او هغه ځه نو بايد پرېکړونی وي. داسې ښه نه برېښي، دا ،،ورکوي،، بايد د ترانزېتيو ورب انډول کړنويی وي، چې له کړوني سره پرېکړونی ولري.

دا د کړنوييونو لکه، ځم، خورم، د –م سره غزونه د نومو‌ييونو اړيکې د غونډالې و توکو ته د هغوي د روښانه کولو لپاره غزوي.

يادونه: په دې ليکنه کښې مو دې لاندې ځه ته ګوته ونيوله، چې پښتو نوميناتيو نه لری، خو موږ په پښتو بيا کړونی لرو او کله، کله يې همداسې د اکوزتيو پر ځای باندې نه کړونی او همداسې د اکتيو او پاسيو لپاره، همداسې د ترانزيتيو ورب لپاره په پښتو کښې کړنوييونه لرو، چې هغه کړوني او پرېکړوني لري.

ګورو، چې دا د کړنوييونو غزونه يواځنی ده.

دا به بيا لنډ وڅېړو، چې و ما ته پوره غوره برېښي.

## له اېرګاتيو ځخه ژبلاريز ځه پوهېږو؟

اېرګاتيو د ژبو له هغې ډلې ځخه ده، چې هغه نوميناتيو او اکوزاتيو زبې نه وي؟

دا نو ځنګه نوميناتيو او اکوزاتيو ژبې نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانونه يې: دا د ما ژبپوهني يا دلته په لومړۍ برخه کتاب کښې روښانه دي، خو دا چې دا تر يوې پولې پورې ستونځمنه ده، نو دا به هم لږ وڅېړو او دا دې هم په ياد وي، چې همدلته په همدې کتاب کښې مې په يوه نابلده او روښانه توګه ښوولې ده.

. پښتو يوه ايرګاتې ١٨ .

په پښتو ژبلار کښې دا په اړيکتينګونو کښې روښانه ده، خو دې د الماني کاسوس Kasus دا دوه اړيکتينګوني به يې داسې لږ روښانه کړو.

Wer; was

کاز يا کاسوس، چې پښتو يې اړيکتينګووني دي تر اوسه پورې د پښتو ادبياتو کښې داسې منظم نه دې څېړل شوي. د ما په کتاب کښې شته او دا د سم ليکلو لپاره ډېر اړيين دی.

د دې پورته دوه نومځاينيو ته موږ درې پوښتنځاينيوي لرو: څوک، چا، څه، چې دا د هغوي په څېر نوميناتيو نه دي او کړوني دي.

پښتو دوه اړيکتينګوني، کېز يا کازوس لري: رېکتوس او اوبليکوس يا کړوني او نه کړوني، چې دا هم د پښتو د ژبپوهانو کتابونو کښې هېڅ نه دي څېړل شوي.

دا چې زه په الماني ژبه پوهېږم او هغه مې وتونژبه هم ده، نو دا خپلې غوښتنې به يې د الماني ژبې پر بنست باندې يا له پرتله کولو سره وښايم، چې دا يا لماني يوه ابرګاتيو ژبه نه ده او په يوه يادوه بېلګو سره به يې هغه بېلوالی وښايم:

پښتو چې ايرګاتيو ژبه ده، نو نوميناتيو اواکوزاتيو ژبه نه ده.

که موږ ولرو:

(Er(1) hat(2) mich(3) geschlagen(4

دا پورته د الماني ژبلار پر بنسټ باندې يوه اکوزاتيو غونډاله ده، ابر(١) نوميناتيو او ميښ (٣) او اکوزاتيو ابجکت دی، چې په پښتو کښې نه شته، نو ژباړه يې د داسې لږروښانونې

سره: ګيشلاګېن(۴) ( د شلاګېن ورب،، تېر وخت) ترانزيتيو ورب دی چې سبجکت او اکوزاتيو ابجکت لري. سبجکت چې نوميناتيو دنده لري او ابجکت اکوزاتيو دنده لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا: پښتو سبجکت، ابجکت او له دې سره نو ترانزيتيو ورب هم نه لري

د الماني پښتو ژبلاريزه ژباړه يا بڼه يې اندول:

هغه زه ووهلم.



په پښتو کښې ،،هغه،، کړونی دی. دا په دې پوهېدنه چې نوميناتيو نه دی( موږ په پښتو کښې دوه کړوني لرو: زه او ما، چې دواړه په بېلابېلو وختونو او له بېلابېلو وييونوسره بل ډول کارول کيږي)، ،،زه،،، د اوس وخت لپاره پرېکړونی دی او نه اکوزاتيو. ګورو چې ،،وهل،، هغه کړنوی يا بوختواليوی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري. موږ دلته دا کړنويي ترانزيتيو نه ليکو، دا هغه کړونی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري.

يوه بله بېلګه يې له الماني څخه.

(Für(1) mich(2

په پورته کښې (۱) اکوزاتيو مخ-اړيکوی يا مخځاينيوی دی او (۲)اکوزاتيو نومځاينيو دی.

پښتو يې: د ما لپاره.

په پورته کښې ،، د ،، پوهېدنوړونکی مورفېم، په ،، د ما،، کښې و ،، ما،، ته د خاوندوالی پوهېدنه وړې او ،،لپاره،، پسېځاينيو دی يا اړيکويي دی. ګورو چې د ،، د ما لپاره،، د خاوندوالي اړيکتينګوونی دی.

ګورو، چې د دواړو ژبو ژبلاريز تو پير يې څومره دی.

نو د دې د پوهېدني لپاره بايد د ژبې په کورنی وپوهېږو، چې د اېرګاتيو له کورنی څخه ده.

له درې يا فارسي ژبې سره يې پرتله کونه:

زه د فارسي پر ژبلار باندې نه پوهېږم، خو په څه چې پوهېږم او ستونځې يې، نو هغه به داسي وښايم:

تو مرا( يا ما را) زدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به دا د فارسي ګرامر(؟) له مخې او یا دا درې ژبې څوک یې چې ژباړي -او ستونځې همدلته دي- وژباړم.

تا ما ته ووهل، ځکه چې دوی نه پوهیږي یا ودې ته یې پام نه ویی یا نه شي کېدی، چې پښتو دوه کړوني لري. خو اوس به یې د پښتو ژبلار سره سم وژباړو:



تا زه ووهلم.

ګوری کړوني په پښتو کښې زه او ما دي او د دې لپاره په درې کښې یو من ( د ما اند) او په نورو ژبو لکه انګرېزي او الماني کښې هم یو شتون لري، نو اوس به دا ،، زه،، دی څنګه و ژباړي د ،،را،، پر پښتو پوهېدنه باندې نه پوهیږي یا یې پام ور ته نه شي کېدی.

که اوس له پښتو څخه، تا زه و وهلم، نو څنګه به یې په درې و ژباړم؟....

وروسته به پر دې باندې یوه غزولې لیکنه وکړم، که وخت اجازه راکړه.

ما پر دې باندې نسبتآ ځان ښه پوه کړی، ځکه چې زه په الماني پوهېږم او الماني یوه نه ایرګایو ژبه ده، چې دا اوس یې پر ژبلار باندې هم پوهېږم، له دې امله و خپلو ستونځوبیو ته رسېدلی شم. ژبه په رېښتیا سره یو ستونځمن ریښه ده.

## په اړیکتېنګوونو کښې د کړونو او نه کړونو پوښتنوییونه:

پوښتنه: د کړونو: څوک، چا،څه.

د نه کړونو : د پرېکړونو: چا، څوک، څه

د خاوندولي: د چا، د څه. دلته ګوره ،، څوک،، نه شته او نه ،، زه،، شته دی.

د داتیو: له چا، له څه. په چا، په څه، پر چا، پر څه، تر چا، ترڅه، و چا، و څه.

دلته پوښتنه دا پورته ،،د، له، پر، په، تر، و او نور. دا نو پوهېدنوړونکي مورفېمونه دي، چې د ،، چا،،، چې د تېر مهال لپاره کړونی او د اوس مهال لپاره پرېکړونی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پو هېدنه يې پر نه کړونو و د چا، د څه، له چا، له څه ، پرچا، پر څه، او و نورو ته وړل کيږي. يا دا هغه نومو ييونه دي، چې د ،، ما ،، پو هېدنه يې، چې کړونی او په اوس مهال کښې نه کړونی دی و ، د ما، له ما، پرما ... ته يې د نه کړونو پو هېدنه وړې ده.

په دې پسې نو بيا پسېځاينيوي يا اړيکو ييونه- لپاره، څخه، سره، کره، پسې، پورې، باندې، کښې، ته او که نور وي- راځي .

.

. پښتو يوه ايرګاتي...پيل ٢١ .

دا کېز(کاز)، کازوس يا اړيکټينګووني جوړوي يا د دې اړونده اړيکويونو دنده يې بيا په اړيکټينګوونو کښې روښانه کړې ده:

دا اړيکټينګووني تل د غونډالو په منځنی برخه کښې ځای نيسي.

--- دا هم ـ لکه چې ومو ليدل- هرو مرو نه ده، چې موږ دې د هرې بلې ژبې پو هنيز وييونه ولرو، خو بايد ښه وڅېړل شي، چې اړونده يې ميندلکېدی شي.

دا لاندې به د ومخ ته ليکنې څه تکرار او څه ورزياتونه وي، خو داسې په بل ډول ده او و ما ته يې هغه د ليکلې بلډولوالی او لوستل يې و ما ته کټور بربښې. په زړه پورې ده.

-- پښتو يوه ابرګاتيو ژبه ده. پيل

دا چې په نورو ژبو او په پښتو کښې له دې سره د موږ ژبپوهان سوچبوچ نا بلده دی او دا به دلته په ګوته کړم، چې موږ په پښتو کښې ټولې ستونځې هم- له دې سره د نابلدتيا له امله - لرو، نو دا به لږ ښه وڅېړو او دا به د خبرو منځ زړی يا منځټکی وګرځوو:

## له ابرګاتيو څخه ژبلاريز څه پو هېږو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه پیل یادونه۱: دا به په داسې یو ډول وښایو، چې دا ښوونډول به یې همداسې نابلد وي، لکه څېله دا د څېړلو څه، خو پوهوړ دي.

-- په هره ژبه کښې هر ژبتوکی یو پېژند لري او په بنسټ یې دنده پېژندل کيږي، بېلګه یې راوړل کيږي او باید راوړل شي.

## پېژند:

اېرګاتیو ژبې د ژبو له هغې ډلې څخه دي، چې هغه نومیناتیو او اکوزاتیو ژبې نه وي.

دا نو څنګه نومیناتیو او اکوزاتیو ژبې نه دی؟

<u>. پښتو یوه ایرګاتیز ۲۲ .</u>

## روښانونه یې:

ګورو چې خبره ټوله په کاسوز یا کاز case & kasus کښې ده. ما دا د دې نوم له دندې سره سم اړیکنیوونی یا ښه یې اړیکټینګوونی بللی، چې دا یې ټیکټاک خوی یا کارونځای دی. دا چې پښتو نومیناتیو او اکوزاتیو ژبه نه ده، نو هرو مرو له اړیکټینګووني سره مو سر او کار دی.

لومړی به د الماني ژبې کاسوس داسې لړ یا د کړو:

۱ – الماني ژبه چې د اېرګاتیو ژبو له ډلې څخه نه ده، څلور کاسوس یا اړیکټینګووني لري: بې له څېړنې

نومیناتیو، جینیتیو، داتیو او اکوزاتیو.

د کازوس سره سم یا له دندې سره یې سم په الماني کښې نومویوونه فلکتیرن کيږي یا بڼه بدليږي او دا نومویيونه غوره کوي یا داسې دي:

Ich; mein, mir, mich

دا د الماني نومویيونو بڼه بدلېدنه ده، چې موږ یې په پښتو کښې دا بڼه بدلېدنه نه لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- دا د کازوس یا اړیکتیینګوونو غوره دنده ده او داسې و مخ ته ځو:

--- و به ګورو چې د Ich لپاره چې نومیناتیو دی، پښتو اړوند دوه نومځاینیوي لرو:

زه او ما، چې د کارولو دندې د ما د ژبپوهنې په کتاب کښې پر ورسره بلده توګه باندې روښانه دي.

-- و به ګورو چې د mein لپاره پښتو اړوند ،،زه،، نه لرو او ،،ما،، یې لپاره لیکلی شو، خو د پوهېدنبدلېدنې سره، چې د،،ما ،، پوهېدنه باید بدله شي او دا د کړونی او پرېکړوني ،، ما ،، نه وي یا د هغوی سره ،، ما ،، نه وي یا ښه یې: چې هغه کړونی او پرېکړونی یواځې،، ما ،، نه وي. دلته نو باید د ،، ما ،، دنده د یوه مورفېم له لارې څخه یا پر مرسته باندې بدله شي، چې دا مورفېم ،،د ،، دی او دا ،، د ما،، کیږي، چې خاوندوالی دی.



-- و به ګورو چې د mir لپاره پښتو اړوند،،زه،، نه راځي او،،ما،، یواځې نه شو لرودی، ځکه چې ،، ما ،، کړونی دی، نو باید یو څه وي، چې دنده یې له کړوني او پرېکړوني څخه ونه کړوني ته راواړوي. پوهېدنوړنه.

---- دا به ګوره ښه په پام کښې ونیسو، چې پر دې باندې به نو موږ دا زه، ما د پښتو د اړیکتیینګوونو لپاره څنګه برابروو او ایا د اړیکتیینګوونو سره سم دا د پښتو نومځاینیوو لپاره څنګه ترتیبوو یا ښه یې ترتیبیږي؟

په دې هکله په پښتو لیکنو کښې تر اوسه پورې هېڅ - یا هېڅ بریالی او سمه څېړنه نه ده شوې، نو له دې امله هم لږ نابلده او ستونځمنه ده او سره منل هم همدومره ستونځې لري او ما هم ورته له هغې بلدې لارې څخه یوه بله د روښانه-کولو لار هم ( هغه بل ډول یې د ما په بل کتاب کښې شته یا به دلته هم راوړل شوې وي)غوره کړه

پر ترتیب باندې دلته به د ، زه،، یا ،،ما،، لپاره دا راوړم:

دا نه څېړم، خو دا چې پښتو ولې نومیناتیو او اکوزاتیو ژبه نه ده، دا به لږ روښانه کړو:

یوه پر المانی باندې یا د الماني اکوزاتیو غونډاله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ich schlage dich

په پورته کښې Ich سبجکت، schlagen ترانزيتيو ورب او dich اکوزاتيو سبجکت دی.

که موږ دا پورته غونډاله په پښتو وژباړو يا يې انډول وليکو، نو ليکو:

د اوس مهال لپاره.

--- زه تا وهم.

د تېر مهال لپاره:

(Ich(1) habe(2) dich(3) geschlagen(4

د پورته غونډلې لړ روښانونه:



(۱) نوميناتيو يا سبجګت، (۲) د تېروخت مرستندوي کړنوی، (۳) اکوزاتيو ابجکت او (۴) ترانزيتيو کړنويی دي.

د ا به پروا ونه لري، که دلته هم راوړو، چې په پورته غونډله کښې دا اصلي د غونډلې وييونه شته. دا به وروسته روښانه شي.

د الماني ژبلار سره به سر او کار ونه لرو، خو د پښتو به روښانه کوو.

د پورته الماني غونډالې پښتو پوهېدنه:

---- ما ته ووهلې.

له همدې ځايه څخه به هرڅه په پام کښې نيسو.

--- موږ په پورته دواړو غونډالو کښې، کړونی، پرېکړونی او کړنوييونه لرو، چې خپله دا نومونه يې د الماني له نومونو سره پوره توپير لري.

ګوری الماني همهغه سبجکت دی او ابجکت لري د ترانزيتيو کړنوي سره او له دې امله دا الماني غونډاله اکوزاتيو ده. دا سجکت او ابجکت پر پښتو باندې يا په پښتو کښې انډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کړوني او پرېکړوني دي او ترانزيتيو پر پښتو باندې هغه کړنويی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري. دلته دې د پوهېدلو پوره پام وشي.

--- دا د پښتو غونډالي، نو د ژبلار له مخې کړوني دی. نو په پښتو کښې د اړيکټينګوونو

پيژند:

--- پښتو دوه کاز، کازوس يا اړيکټينګووني لري: رېکتوس( ولاړ يا کړونی) او اوبليکوس( پروت يا نه کړونی)

کاز يا کاسوس، چې پښتو يې اړيکټينګووني دي تر اوسه پورې داسې منظم يا پر دې توګه باندې يا هېڅ نه دې څېړل شوي. د تکرار بخښنه دې وي.

دا چې دا ډېيييږ غوره دي، نو که لږ ورسره ډېر تم شو هم بده به نه وي:

.



# پښتو ژبه دوه اړيکټينګووني لري

لومړی: rektus کړونی اړيکنيوونی يا اړيتينګوونی.

دويم: oblikus نه کړونی اړيکنيوونی يا اړيتينګوونی:

دويم۱ : پرېکړونی اړيکنييونی يا اړيتينګوونی

دويم ۲: نه کړوني اړيکنيووني يا اړيتينګوونی:

دا دويم ۲ هم دوه دي:

دويم۲۱ : د خاوندوالي اړيکنيوونی يا اړيتينګوونی.

دويم ۲۲ : د اړيکوييونو اړيکنييونی يا داتيو اړيتينګوونی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی: کړوني اړیکتینګوون: دا چې ښه وربانديې و پوهیږو، له دې څخه د مخه لاندې یادونه:

## لومړی غوره یادونه: پښتودوه ډوله کړنوییونه لري

۱ ـ هغه کړنوییونه، چې یوائې کړونی لري یا هغه وییونه چې کړل کیږي یا: یو څوک یې کوي.

یادونه: دا د خبرو ده، چې دا به درې وي یا دوه، خو زه اوس د دوه-وو پلوی یم.

لکه: کړوني: زه ځم، زه لاړم....

۲ – هغه کړنوییونه چې د کړوني برسېره پرېکړونی هم ولري یا یو څوک پر یو څه باندې څه کوي. لکه: زه تا وهم. ما ته ووهلې.

یوه غوره د کړنوییونو له پېژند څخه:

کړنوییونه په پښتو کښې بڼه بدلېدنه نه لري او د دې بڼه بدلېدني انډول یې د سفېکسونو یا هغه پښتو یې پسې تړلی، چې د د ندې له مخې ما پوهېدنغزووني او کاروني له مخې



هداسې دی، بللي، څکه دا د نورو وییونو سره چې راځي، نو پوهنه یې غزوي او دلته د کړنوییونو پوهېدنغزووني دي. دا پوهېدنه یې چې غزیږي، دا بنستوییونه دي.

اوس راځو و لومړي اړیکتینګووني ته:

دې لاندې ته به هم همدلته پام وکړو:

موږ په پښتو کښې د نومویینو د یوګڼ لپاره دوه نومځاینیوي لرو، چې دا یې د نورو ژبو سره پوره توپیر لري:

لومړی کس:زه، ما.

دویم کس: ته، تا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم کس: هغه، هغه، هغې.

کله، کله د ه پر سر باندې یو ګوډی الف راځي، چې ما تراوسه پورې یا کله نه دي لیکلی.

---او د ډېرګڼ لپاره لرو: موږ، تاسو، هغوي....

یادونه زه به زه او ما د لیکنې د لنډونې لپاره راونیسم.

## د اړیکتېنګوونو یا کاسوسcase; Kasus پیل:

په دې لیکنه کښې داسې په نابلده توګه و مخ ته تللی یم، خو فکر په دې کې وکړی، چې څنګه مې دا د پښتو اېرګاتیووالی ښوولی.

موږ له کازوس یا اړیکتېنګوونی څخه و مخ ته ځو او دا په پښتو کې دوه دې، چې همدلته به و ښوول شي. ١ – کړونی. ٢ – نه کړونی: دا هم دوه دي: ٢ ١ پرېکړونی. ٢ ٢ نه کړونی او دا هم دوه دی ٢ ٢ ١ د خاوندوالي اړیتېنګوی. ٢ ٢ ٢ : د داتیو یا د اړیکوییونو اړیکتېنګوونی.

لومړی: کړونی:

.

. یوه غوره د کړن ٢٧ .

--- د اوس او تېر مهال لپاره: له هغه کړنویی سره، چې پرېکړونی نه لري: زه ځم، زه لاړم. پام دې وي، چې دا دنده یواځې ،،زه،، و سر ته رسوي.

--- د تېر مهال لپاره کړنوییونه، چې پرېکړونی لري: زه منه خورم، ما منه وخوړه.

یادونه١ :

په پورته کښې ګورو، چې د اوس مهال لپاره ،، زه،، کړنوی راځي او د تېر مهال لپاره ،، ما ،، ، چې دا ،، ما ،، به وروسته هم مل وي د مورفېمونو له لار څخه، چې هغه پوهنوړونکي دي او اړونده پوهېدنه به و نومویيونو ته یووړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: دا یادونه راته همدلته اړیینه برېښي، چې غونډلې باید پوره ولیکل شي او نه یواځې یوه وړ او نیمې.

پښتو خو د موږ ژبه ده، که کومه غونډاله نیمه ولیکو، نو هم پوهېږو، چې موخه څه ده. لکه: ځم. دا به لومړی کس وي، خو دا پوره غونډله نه ده. د کړنوي څخه یواځې غونډاله نه جوړیږي.

هره غونډله لږ تر لږه له دوه وییونو یا ژبتوکو څخه جوړه، چې نوموی یی دی او کړنوی.

هغه کوچنۍ غونډاله کښې باید د کړنویي سره کړونی وي، لکه: زه ځم او همداسې له ،،وهم،، سره. له دې سره باید کړونی او برېکړونی وي، که نه! نو بیا دا ناپوره غونډاله ده. زه وهم او نه یواځې ،،وهم،،.

دویم اړیکتینګوونی، کاز یا کازوس :

دا له هغو کړنوییونه سره راځي، چې کړونی هم ولري. دا له نامه څخه هم څرګنده ده.

اوس مهال: ته ما وهې.

تېر مهال: تا زه ووهلم

.

.



یادونه: ګورو، چې په کړوني اړیکتنګووني کې زه د اوس مهال لپاره کارول کیږي او ،، ما ،، د تېر مهال لپاره، خو په پرېکړوني کښې په ځټ د اوس مهال لپاره ما او د تېر مهال لپاره زه راځي.

یادونه: موږ د نه کړونو اړیکنیوونو یااړیکتینګوونو لپاره دوه څه ته اړتیالرو، چې هغه به یې د مخه و څېړو او دا دوه اړیکتینګوونو کې به دا په یاد ولرو، چې،، ما ،، په یوه کښې د تېر مها لپاره کړونی او بل کښې د اوس مهال لپاره پرېکړونی دی، نو دا ،، ما،، په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکتیینګوونو کښې داسې خپلواکه دنده یا هغه لرلې پوهېدنه نه شي لرلی، چې هغه یواځې د کړونو او نه کړونو لپاره یې لري. دا دي:

پېژند- مورفېم د ژبپوهنې یوه غوره کلمه ده او د مورفولوژي( د وییونو د جوړښت او بڼې پوهنه) جوړښتبرخه ده. دا کلمه د زړې یوناني له *morphē* (مورف= بڼې) څخه رابېله شوې ده.

لند: مورفېممونه یا پوهېدنوړوني: موږ د پوهېدنوړونې لپاره ځانګړي مورفېمونه لرو او دا دي: د ، له، په، پر، تر، و، چې دا ،،د،، د خانوندوالي اړیکنیووني لپاره دی یا راځي او دا نور د پسېځاینییو- یا داتیو اړیکتیینګوونو لپاره کارول کیږي یا له هغو سره راځي.

پسې ځاینیوی (پوستپوزېشن) یا ښه یې اړیکوییونه: دا د دندې له مخې د اړیکو لپاره کارول کیږي، نو د دندې یا د خوي له مخې ځکه اړکوییونه بلل کیږي

دا دي: لپاره، مخامخ، څخه، سره، کره، پسې، باندې، پورې، کښې،ته او تر.

د خاوندوالي اړیکتیینګووني لپاره: لپاره، مخامخ. او دا نور یې د اړیکوییونو اړیکتیینګووني لپاره راځي.

او س دا دوه۲ اړیکتیینګوني:

د خاوندوالي اړیکتیینګیووني: دما لپاره، د ما مخامخ

دویم ۳ اړیکتیینګووني: د اړیکویونو اړیکتینووني یا داتیو – لپاره: څخه، سره، کره، پسې، باندې، پورې، کښې،ته-

که نور وي، هغه دې بیا نور ژبمینه-وال ولیکي- کارول یې:



--- له هغه څخه( سره، کره، پسې)

--- په هغه کښې.

--- پر هغه باندې. پرما پورې، لکه پرما پورې ختې نښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- تر هغه پورې.

-- - و هغه ته

يادونه او ډېره اړيينه: د دې ،،تر،، وزر پرېکړی، دا پرته له داسې ځای څخه، چې يو څه پای مومي، په بل ځای کښې يې راوړل پوررررره ناسم دي.

--- و ما ته.

يادونه: له دې سره مو دا هم وښوله، چې دا ،،له، تر، پر...،، او نور يې پرېپوزېشنونه نه دي او په دې يادونه کښې غوره دا هم ده، چې پښتو ژبه پرې پوزېشنونه نه لري.

دا به هم په پام کښې ونيسو، چې دا دلته راغلي فونېمونه چې و نومونيونو ته پوهېدنه وړي، هر يو يې لکه دلته چې ليکل شوي، د خپل اړونده اړيکوييونو سره راځي او نه په بل ځای کښې، دا ،، تر،، يواځې د پورې سره راځي او نه په بل ځای کښې او داسې نور.

اوس به دا اړيکتينګوونې د تکيه-اړ نومځاينيوو سره هم وڅېړو، خو لومړی د اينکليتيکي نومځاينيوی، چې له دې سره هم پر منظمه توګه باندې پوره نابلد يو او معياري کار ورباندې نه دی شوی.

## اړيکتينووني يا کازوس د اينکليتيکي او پروکليتيکي نومځاينيوو سره:

پروکليتيکي:

لومړی: کتاب مې-، دې -، يې واخست

دويم ۱ : سپين مې وهي.

.

. اړيکتينګووني.. ۳۰ .

يادنه: دلته ګوره داد تېر وخت لپاره نه راځي.

زه سپين ووهلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا داسي برېښی چې دا ،،دويم۱ :،، د ،، زه،، لپاره نه راځي.

دويم ۲ : سپين مې ورور دی.

اړيکټينګوونی د اينکليتيکي نومځاينيوو سره

لومړی: را، در، ور د لوريز کړنوييونو سره. راځه، درځه....

دويم -را(، در، ور) څخه( سره، کره، پسې، باندې، کښې، پورې)

له دې امله مې دا د اړيکوييونو اړيکټينوونی (هم) بللی يا بولم.

دا اوس په اينکليتيکی او پروکليتيکي يا پسې تکيه-اړ او مختکيه اړ نومځاينيوي

يادونه: په پښتو کې د موږ ستونځې ټولې همدلته دي، چې پرې غږېدلي يو:

بېلګې:

۱ –زه له هغه څخه ( سره،کره، پسې...) لاړم.

۱۱- زه ور څخه( سره، کره، پسې) لاړم.

لرو: له هغه = ور

۲ - تر کابل پورې. ور پورې. تر کابل = ور

۳ –زه نن په کور کښې يم. په کور کښې. زه نن ور کښې يم. په کور= ور

۴ –کتاب پر مېز باندې پروت دی. کتاب ور باندې پروت دی. پر مېز= ور

۵ – پر ما پورې. راپورې. پر ما =را

۶ – و سپين ته. ما و سپين ته وويل. ور ته وويل. و سپين = ور



بيا لنډ: (له ما، له تا، له هغه...تر ما...، پرما...وما،.. ) = ( را، در، ور).

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره مو دا وښوول چې: له، تر، پر، و، په.... بل څه نه دي پرته له مورفېمونو څخه، چې د نوموييونو يا و يو بل څه ته پوهېدنه ورړي، چې اړيکنيوونو سره سمه پوهېدنه ولري. دا هم پوره نابلد څه دي، خو بنسټيز او پرلار دي، چې پوهېدنه يې ساده ده.

اړيينه يادونه: د پښتو په زياتو ادبياتو کښې لولو، چې په پښتو کښې، په ځانګړې توګه اړيکوييونه نه ليکل کيږي يا پرېښوولکيږي يا ور څخه تېريږي( زه يې په رښتيا درته وايم، چې پر ،،حذف،، باندې نه پوهېږم، چې څه ته به وايي، خو دومره پوهېږم، چې يو څه دا د ما له ليکلو څه څخه به وي. بخښنه دې وي)

دا دمخه تېر به په ياد کښې لرو او اوس بېرته ځو و هغې د الماني غونډالي ته.

Ich habe dich geschlagen

موږ له دې سره وښوول، چې پښتونوميناتيو ژبه نه ده. اوس راځودې ته دا کړنويي ګرداني حالت geschlagen په الماني ژبه کښې ترانزتيو بللکيږي او دا يې ځوی دی، چې سبجکت او ابجکت لري. دا د پښتو اندول يې نو څه دی؟

دا د پښتو انډول يې کړنويي دی، چې کړونی او پرېکړونی لري.

اوس به دا په يوه بله الماني غونډله کښې وښايو، چې دله ته هم د خاوندوالي حالت په ګوته کوي او د خاوندوالي اړيکتينګوونی دی.

لرو: Dieses Buch ist für mich

دا د mich ځاينيوو په پښتو کښې ،، د ما ،،دی. ،، د ،، مورفېم او ،، ما،، کړونی ته پوهېدنه ورړي. الماني اکوزاتيو ده او پښتو د خاوندوالي غونډله ده.

دا کتاب د ما لپاره دی.

ګورو، چې دا يوه د خاوندوالي اړيکتينګوني غونډاله ده.

موږ څه وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ له دې ليکنې سره دا وښوول، چې پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده.

**لنډ بيا:** اېرګاتيو ژبې هغه دي، چې نوميناتيو او اکوزاتيو ژبې نه وي.

پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده.

د وييونو نه ليکل او پوهنيز څه چې پښتو يې نه لري.

لږ ګوته به دې ته ونيسو، چې په پوهنو کښې د پښتو وييونو له پرېښولو يا نه کارولو سره دا وييونه ورکيږي او د دې ليکنې بله هغه غوره برخه به داوي، چې څه مو د نورو ژبو يا الماني په پرتله ژبه نه لري او څه سم نه دي، څېړل شوي.

پښتو يوه لرغونې ځوانه ژبه ده. ځوانه ځکه ده، چې پښتو، ګومان مې دی، له ۱۹۶۴ ز ک (؟) څخه راپه دې خوا په افغانستان کښې رسمې او ملي ژبه منل شوې ده، خوله هغې څخه وروسته يا تر اوسه پورې داسې غښتلې نه ده پيل شوې.

بله ستونځه دا ده، چې د پښتو په ټولو پوهنو آن په پښتو کښې هم، دې ژبې – د هيواد د لومړۍ ژبې په څېر- خپل پوهنيز ځای نه دی نيولی.

هو! ګورو، چې ټول پوهنيز وييونه، هغه د ژبې پوهنيز وييونه مو هم په پښتونه دې او په ژبه کښې مو د پښتو وييونه لږ برېښي، دا له دې امله، چې د موږ د ليک لوست خاوندانو خپلې زدکړې په پښتو نه وې کړې او دا لړۍ لا تر اوسه پورې لږ يا ډېره همداسې روانه ده. که په کومه پوهنيزه ليکنه کښې پښتو نومونه ولېکې، نو د موږ پښتانه دې هم تورنوي، چې يا ژبه ستونمنځه کيږي او يا د نورو نا پښتنو لپاره پوهنه هم ورباندې ستونځمنه کيږي. موږ ګورو، چې موږ هغه ډېر ساده نومونه هم په پښتو نه شو منلی. زه پر دې باندې ځکه پوهېږم، چې زه ګورم، يواځنی کس يم، چې په ځانګړې توګه پوهنيزې ليکنې مې هم په پښتو کوم، د سمون کونتنيونه په دې کښې نه شته، خو د پښتو په نومونو نه پوهېدل يا ځان نه پوهول يې هغه ستره ستونځه ده يا و دې نورو ته کله، کله د خندا برېښېدل . ما له خپل ځان سره دا پرېکړه کړې، چې تر کېدونکي پولې پورې به زه خپلې ليکنې په پښتو کوم او همداسې له خپلې پرېکړې سره ريښتونی پاتې شوی يم. زه دا خبرې نه غزوم، ودې ته راځم، چې اوسنۍ موخه مې څرګنده کړم، چې پښتو پوهنيزه ده او پر پښتو باندې پوهنيزې ليکنې کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- پښتو ژبې په دې لنډ او نه پوره ورته چمتو شوې وخت کښې پوره وده کړې او دا  تر اوسه پورې د پښتو استادانو برکت او نه ستړی کېدونکی هلې ځلې دي.

-- موږ په پښتو ژبه کښې او په ځانګړې توګه ګرامر یا ژبلار کښې پوره ستونځې لرو، چې د دې لپاره د چا د نه کار کولو ملامتیا نه شته، ګوته مې ورته ونیوله، چې د موږ د مشرانو کار په دې لار کښې نه هېرېدونکی او نه ستړی کېدونکی وو او دی.

ما هم له شلو کالو څخه را پر دې خوا باندې ځان د ژبې یا له ژبلار سره بوخت کړی او په دې ترڅ کې مې د لسو کتابونو په شاوخوا کښې – د پښتو ګرامر او اړوند- لیکلی، چې اخرنی کتاب مې دا دوه میاشتې د مخه چاپ شوی او له یوې اونی راپه دې خوا په

ketabton.com کښې هم د لیدلو لپاره  خور شوی، چې د ما په اند ژبلاریزې ستونځې په کښې له توان سره سم پوره اوبی شوي دي او دا هلته کتل کېدی شي.

دې ته به ګوته ونیسم، چې د ما کتابونو منځپانګه – د ژبلارې هم- د نورو ژبپوهانو دکتابونو له منځپانګې سره پوره توپیر لري. زه له دې لیکنې سره لنډ و تاسوته هغه  څه وړاندې کوم، چې په ژبه کښې شته، خو  دا تر اوسه پورې نه دې لیکل شوی، یا ورته پام نه دی شوی او یا ورته پام نه شو کېدی.

زه به هغه څه دلته و تاسو ته وړاندې کړم، چې په ژبلار کښې باید وي، خو هغه تراوسه پورې نه دې لیکل شوی، پرته د ما له لیکلو څخه.، چې

 یادونه: د ما لیکنې په پښتو دي، دا به د ګرانو لوستونکو لپاره یوه ستونځه وي، خو که څوک یې د  وربادندې پوهېدلو مینه لري، نو ساده – دا چې په پښتو دي - وربادندې پوهېدلی شي.

له پیل څخه یې رانیسو، بې له شننې، شننه یې د ما د ژبپوهنې په اخرنې کتابتون کښې کتلی کېدی  شي، زه هم خبرو ته وخت پوره لرم.

یادونه: په لیکنه کښې دا  پیژندونه نه – یا سم نه دې ورکړشوی، د اړونده ژبوییونو د کارولو موخه هم نه ده روښانه یا هغه خوي یې، چې دا کړنوییونه  ورڅخه پوهېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- هرڅومره چې يو څوک په بله ژبه و پوهيږي، د خپلې مورنۍ ژبې ځای نه شي نيولی.



په مسلکي يا ريښه-اړونده وييونو کښې خپلې ژبې ته مه شا کوئ. په هيڅ پوهنه کښې او په ځانګړې توګه پښتوپوهنه کښې هم په خپله ژبه کښې و خپلو وييونو ته مه شا کوئ.

ما شمېرپوهنه، فزيک، پښتو ژبه، هوښيارو ويناو، فلسفه او ټوليز سم اند کښې کتابونه ليکلې او ژباړل. دا مې په پښتو ليکلي او که ګورئ يې او پام ورته وکړئ، دا مې په پښتو ليکلي. که خپله ژبه په مسلک يا ريښه کښې ونه کاروو، نو دا مو د ژبې له کار څخه د لوېدلو او له منځ څخه د تللو هغه ساده، لنډه او هرو مرو لار ده. هر څه د ځان او خپلې ژبې لپاره کوئ او د بل چا و ژبې ته د زيان رسولو اجازه نه شته.

--- دا چې پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده، دا د موږ ژبپوهانو په پام کښې نه ده نيولې يا و پام ته نه راتلله.

--دموږ د پښتو ليکوالانو د ژبنيزو او نورو غوره وييونو پېژندونه روښانه نه دي ور کړي.

--- دا بايد همدلته په ياد راوړو، چې په ژبه کښې هر وی ياژبتوکی يو پېژند لري او په بنسټ يې دا بيا يوه کارونه يا ښه يې، دنده لري او بېلګې يې راوړلکېدی شي.

--کړنوييونه، بوختوالي وييونه يا مهالوييونه: کړنوييوونه په پښتو ژبه کښې ښه بدلېدنه نه لري، خو دا کړنوييونه دا دنده له سفېکسونو يا پسي تړلو، خو ښه يې **يوهبدنغزوونو** سره پوره کوي.

--نومو ييونه: په پښتو ګښې نومو ييونه ښه بدلېدنه نه لري. روښانونه يې په اړيکتينګوونو کښې راغلي.

-- خويو ييونه: په پښتو کښې خويو ييونه هم نه ښه بدليږي، خو جګيړي د ښه، ډېر ښه، خوراښه او خورا ډېر ښه سره.

د موږ د پښتو ژبلار کښې د موږ ژبپوهان دا ستايېننومونه بولي، خو داد ستايېنو ييونو يا خويوونو سره توپير لري او د څېړنې موخه يې خويوويونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: په الماني ژبه کښې د درېوارو بڼه بدلېږي.



-- په پښتو ژبه کښې پرېپوزېشنونه یا د مخه ارېکوییونه نه شته. دموږ لیکوالان هغه څه چې پرېپوزېشنونه بولي، ناسم دي او هغه پوهېدنوړونکي مورفېمونه دي.

-- په پښتو کښې موږ یوائې پوستپوزېشنونه یا پسې ارېکوییونه لرو.

-- په پښتو کښې پرېفېکس یا مختړلی، خو ښه يي و مخ ته پوهېدنغزوونې نه لرو. خو اړونده پسې تړلي پسې پوهېدنغزوونې لرو، چې له دې امله به یې پوهېدنغزوونې و بولم.

-- په پښتو کښې د مورفیمونو په هکله ډېرې لیکنې شوي، خو د سم پېژند او د کارونو دندې يې هېڅ نه دې روښانه شوې.

-- موږ د پښتو ژبې ژبلار لپاره دوه ډوله هغه غوره او روښانه دنده لرونکي مورفېمونه لرو، چې هغه مو هرو مرو ډېر په کار راځي او دا یواځې د ما په کتاب کښې کتل کېدی شي او یا یواځې د ما څېړنه شته او باوري ده.

## -- پوهېدنغزوني او پوهېدنوړوني مورفېمونه.

-- پوهېدنغزوونې سفېکسونه یا پسېتړلي، چې د مورفېمونو یوه ډله ده .

-- په پښتو ژبلار کښې سم یا پوره د کاز یا کازوس – چې د پېژند له مخې دا ارېکټېنګوونکي دی - څېړنه نه ده شوې، چې د موږ د پښتو لیکوالانو نا سمونونه ټول یا هغه ډېر يې له همدې امله دي.

-- موږ پښتو لیکولان په دې نه پوهېږو، چې پښتو یوه ابرګاتیو ژبه ده، نو په دې هم نه پوهېږو، چې پېژند يې څه دی.

-- موږ پښتانه ژبپوهان یا ډېر يې په دې نه پوهېږو، چې پښتو پرته له ځانیزو نومځاینیو څخه کلیتیکي- یا تکیه اړ نومځاینیوي هم لري. دا مختکیه-اړ پسې تکیه-اړ نومځاینیوي، دا د موږ ژبپوهان د ناتوانه، لوریز او ځنې نورو نومونو لاندې لیکي، خو دا چې دا یوه ګډه دله ده، پر دې باندې نه پوهېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې د ژبپوهنې کتابونه ګورم، پوره ورسره زورېږم، دا......

لنډ: پښتو دا څه نه لري؟

. له ویونو څخه .... ۳۶ .

--- د کړنوییو بڼه-بدلون.

--- د نوموییونو بڼه-بدلون.

--- د خویوییونو بڼه-بدلون.

--- پرېپوزېشنونه یامخ-اړیکوییونه یا و مخته اړیکوییونه.

--- پرېفېکسونه، و مخ ته تړلې یا مختړلی.

د دې په پام کښې له نه نیولو یا نه لرلو سره پوره ناسمونونه و رامنځ ته کیږ.

څه په پام کښې نه دي نیول شوي یا نه شو نیولکېدی؟

پوهېدنوړونکي مورفېمونه یا ناسم ور څخه پوهېدل او اړیکټینګوونکي. پوستپوزېشن او دنده یې، چې پوهېدنغزونه ده. رېکتوس او اوبلیکوس.

په پښتو کښې د دې پورته په کوته شوو پېژند او کارونه یې تر اوسه پورې نه دې پېژندل شوییا یې پېژند نه دی رکړ وشوی او تولې یا هغه ډېرې ستونځې هم خوندي لري.

## له وییونو څخه تېرېدنه نه شته(څه تکرار لري)

په پښتو غونډلو کې له وییونو څخه تېرېدل ژبلاریز نه دي. بل ډول تکرار، خو ګټور.

د موږ ډېر یا ټول ژبپوهان او ژبمینه وال په دې اند دي، چې ګوندې پښتو کې د ځنو وییونو ویلو او لیکلو ته اړتیا نه شته او کېدی شي ورڅخه تېر شو ( حذف ؟؟؟ ).

راځی ، چې دې ته لږ فکر وکړو، چې په پښتو کې له وییونو تېریدی شو او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- د پيداښت پر بنسټ باندې يا - له لورې څخه: دا چې ژبه پيداښتي ده، نو له پيداښتي پيداښت څخه خو تېرېدل د پيداښت سره په مخامخوالي کې دی.

دپيداښت سره سم د پښتو وييونو څخه تېرېدل، نو له دې امله ناسم دي.

:

<u>. په پښتو کښې له .....                ۳۷                                   .</u>

--- دې ته دې پام وي، چې ژبه د مشورو او ګوتپورته کونو له لارې نه ټاکل کيږي، ځکه چې پيداښت نه ټاکل کيږي، دا دي، چې څنګه دي. کله هم چې يو څه د مشورې له لارې شوي، ناسم شوي، نو ناسم او پوره ناسم شوی، چې بېلګې يې ډېرې دي، خو دوه به يې له تاسو سره شريکې کړم.

۱ – ژبپوهانو غوښتل، چې ګوندې د عربي مايع لپاره به په پښتو کې څه نه وي، هغه ته يې اوبلن نوم وټاکه، چې اوس هم دمور. ليکولان يا له راديو-تلوېزيون د تښتېدوني يا غاز لپاره اوبلن واورم، پوره زوربړم او همداسې يې د ستاندارد، سويه او ستحې لپاره د کچې کارول، چې دا هم ناروا دی، کارول او د دوي ټاکل پوره ناسم دی. سړی له دې څخه داسې بايد وپوهيږي، چې دوي پر دې باندې نه پوهيږي. ما ته به ډېره بخښنه کوي، زه په رښتيا د خپلو پښتنو پوهانو ډېر درناوی کوم، خو دلته نو بل څه وليکم؟

هغه څه چې بهيږي، بهېدونکي دي. دا تل لرو اوستاندارد او سويه نه د کچوني څه لري، او له دې امله ورته نه کچون اله او له همدې امله نه کچيږي. دامې يوه ورځ له راديو څخه واورېدل، چې ،،په جلال اباد کې د کابل په کچه روغتون جوړ شو،، او سمه بده راته وبرېښېده.

ما چې څېړنه په کې کړې، دا له وييونو څخه تېرېدلو ستونځې هم ټولې دپښتو په څلورم حالت کې يا ښه په ۲ ۲ ۲ اړيکټينګوني کښي دي، چې اوس به يې سره روښانه کړو.

د دې روښانونه هم ډېره ساده او د پيداښت په مټ پوره روښانه ده.

داسې به و مخ ته ولاړ شو او له پيل څخه به پردې اړونده غونډلو باندې پيل وکړ:

لومړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- په هغه باران وربده.

-- هغه باندې باران وربده.

-- پر هغه باران وربد

-- پر هغه باندې باران وربده



دويم:

-- په کور يم او همداسې

-- کور يم.

-- کور کې يم.

-- په کور کښې يم

-- له ما لاړم

-- د ما نه لاړ.

-- له ما څخه(سره، کره، پسې) لاړ.

ولې مونږ په دې پوهېږو، چې موخه مو څه ده او ولې هغه موخه بې له ژبلار له لارې څخه سمه يا نيمګړې سمه برېښي؟

ور څخه تېرېدل يا حذفول ژبلار ده او که څنګه؟

ژبلار له ژبې څخه راوزي او نه ژبه له ژبلار څخه. دې ته مو تل بايد پام وي.

لرو: له ما څخه نو اندول يې راڅخه. که له ،،څخه،، څخه تېر شو، څه به ولرو.

-- ولې نو دا ستونځې تر اوسه پورې نه وې يا نه دي اوبې شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه مو پنځه زره کلنه، خو دپوهنې ډگرته دا شاوخوا اویا کاله کیږي، و دولتې ته راوتلې او دا هم داسې په نیمه نیمخوره توگه یا داسې په خویږدا، چې پخپله پښتنو یې هم د څېړلو توان دومره نه لاره.

پوښتنه: دا ولې، چې پښتنو د ژبلاریزې ودې توان نه لاره؟

ځواب: دا ځکه چې پښتنو یا هغه ډېرو پښتنو خپلې زده-کړي له ښوونځي څخه نیولې تر پوهنتون پورې په پښتو نه دې یا نه وې کړې، نو یو څه پر ژبلار باندې هم نه پوهېدل او

. ولې نو دا ستونځې ..... ۳۹ .

سم یې و فکر ته نه شو راتللی. له دې امله مو هم په ټولو پوهنو کښې هغه ریشه-یې یا مسلکي نومونه هم په پښتو نه دي، چې دا مو د ریښه-ییزو ستونځو سره هم مخامخ کوي.

د ما بېلگه د الماني ژبې سره: پرته له فارسی او پښتو له بلې ژبې سره هم نه دې مخامخ شوې، چې په هغې کښې مخمس ته د ژباړې له مخې پنځه گوډی وایي. خبره د بلد او نه بلد نه ده، خبره د نابلد ده او دا کېدی شي بلد شي او باید بلد شي. د فارسي له امله موږ همهغه د عربی نومونو سره بلد یو او غواړو چې – که ژبې ته مو زیان وي او که نه – همهغه وساتو، دا چې زه دا بل ډول په نورو ژبو بلد یم، ما زړه دا نه شي منلی، دا دې همداسې وي، خکه چې ورسره بلد یو.

د ما پرابلم: له یوې خوا پوهنې په خپله خوندیونه کښې ستونځې لری او له بلې خوا د نابلد پښتو ویونو سره مخامخ کېدل دوه برابره ستونځې و منځ ته راوړي.

هیله ده مرسته وکړی:

۱ – د موږ د پښتو له ستورو څخه کوم یوه ښوونځی اونورې زدکړې په پښتو کړي؟

۲- لومړی د پښتو ژبلار یا گرامر چا په پښتو لیکلی او ایا خپلې د ښوونځي او پوهنتون زدکړې یې په پښتو یا بله کومه ژبه کړې وې.

۳ – د موږ له ستورو څخه اروابناد رېښتین صیب خپل د پښتو گرامر کتاب په فارسي لیکلی وو، دا چا، کله په پښتو ژباړلی او له دې ژبلار کتاب څخه چا د مخه د پښتو ژبلار کتاب په پښتو لیکلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرو مرو دې نيټه داسې نږدې که وي هم سمه ده

په هر ډول د دې شرايطو لاندې اوس هم دمورڼ ژبې د مورڼ د ژبپوهانو په هلو ځلو او د ډېرو ربړو پر ګاللو باندې يې دومره د پام وړ وده کړې. په هغه وخت کې د مورڼ ژبپوهانو دومره امکانات هم نه لرل، چې پرته له عربي او په ځانګړې توګه فارسي، د نورو ژبو له ژبلار څخه کار واخستلی شي. د ژبلار لپاره خو له نورو ژبو څخه نور څه و لاس ته نه راځي، خو داپېژندونه بايد سم راواخستل شي، چې هغه اوس کېدونکي دي.

.

## . تکيه اړ- او ځانيز... ۴۰ .

که تاسو د مورڼ د پښتو ژبې ټولې د بېلا بېلو پوهنو پوهنيزې ليکنې وګورئ، نېمګړې نه، چې له تړنوييونو او اړيکوييونو څخه پرته پښتو په کې نه شته.

مورڼ د ژبې پر غنی کولو پسې ګرځو، خو د خپلو وييونو په ساتلو کې ناتوانه يو، چې دا د خپلو پښتو وييونو ساتل مو بايد لومړنۍ دنده وي.

له ما څخه مې تل ليکنې اوړدېږي، خو لنډ داسې مخ ته ځو:

د مورڼ څلورم حالت مو د پسېځاينيو حالت بللی او ګورو چې ستونځې په همدې کې دي، نو غواړم لومړی تازه د پسېځاينيو پېژند بيا راوړم.

پسېځاينيوي: د ښوونځي په ژبلاريزو ادبياتو کې اړيکويونه يا پسي وييونه هم بلل کيږي، يو وييډول دی، چې يو رابند ټولګی جوړوي او د منځپانګ وي او په ګرامري نښونو کې ځاينيوی شوی. پسېځاينيوي د ژبلار له مخې څخه د يوه نوموييونو ګروپ يا ډله غواړي او له دې سره يو حالت يا اړيکټينګونی ليدوړ په نخښه کوي. دا چې د نومويينو پسي ځای نيوی يا اړيکويونه راځي، له همدې امله پسېځاينيوی يا اړيکويونه هم بلل کيږي او دا يوه ډله ده، چې ځاييز، وختيز، څنګه والي، راټولونکی، سره له دې، اړيينوالی پوهېدنې

لېږدوي يا وړي او په پښتو او نور ژبو کې بڼه بدلېدونکي نه دي.لکه: څخه، سره ،کره، لپاره، پورې، کښې او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: دا لاندې لیکنه کېدی شي تکرار وي، د دېبخښنه دې وي.

## تکیه اړ- او ځانیز نومځاینیوي. دا هم تکرار لري

داسې یو څه به د پسېځاینیوو یا اړیکوییونو او اړیکتینګوونو ښه روښانونه نوره هم تکرار وڅېړو. تکرار ته مه سترې کېږۍ.

له هرڅه څخه د مخه د اړیکتینګوونو Kasusپېژند: په پښتو کې دوه اړیکتینګوني لرو: کړوني او نه کړوني: ۱- کړونی. ۲ – نه کړوني. پرېکړونی، د خاوندوالي حالت او د پسېځاینیوو حالت، کاسوس یا حالت څېړي چې نومویيونه د غونډلي د نورو توکو سره څه اړیکې لري او دا نومویيونه څنګه له حالت سره ځان سنبالوي. په نورو ژبو له بېلګې څخه یې په الماني ژبه کې نومځاینیوي بدلیږي، خو په پښتو کې دا دنده د حالت مورفېمونو



نیولې، چې خپله کومه پو هېدنه نه لري، خو د نومویون سره مل ځان د حالت سره سنبالوي یا برابروي او که سموي او دا دي: ،، د ،، د خاوندوالي لپاره د نومویيونو دنده بدلون لپاره مورفېم.

،، له، تر، پر، په، و،، د پسېځاینییو لپاره د نومویيونو دنده بدلون لپاره مورفېمونه.

دې ته بیا بیا ګوته نیسم، ځکه چې زیات ناسمونونه همدلته راځي، چې دا مورفېمونه یواځي او یواځې په همدې ټاکلو ځایونو کارول کیږي او بس.

اوس راځو نومځاینیوو ته: موږ په پښتو کې دوه ډوله نومځاینیوي لرو:

لومړی - ځانیز نومځاینیوي او کاروني یې

دویم- کلیتیکي یا تکیه اړ نومځاینیوي او کارونه یې. دا نومځانیوي په رېښتوني په یوه څه پسې تکیه اړ وي او یا ان چې ورپسې سلیبش - یا نښتي وي.

ګډه کارونه او د کاره-ونو پرتله- کونه یې.

و لومړي ته : دا په دوه برخو وېشو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيل يادونه: زه به يواځې د لومړي کس نومځاينيوي يا - - لپاره نومځاينيوي وکاروم.

لومړى ١ – يوګڼ: زه، ته، هغه،هغې...

لومړى ٢ – ډېرګڼ: موږ، تاسو، هغوي

لومړي ١ ته: دلته د هر کس لپاره دوه دوه نومځاينيوي لرو:

لومړى ١ ١ – زه، چې د کړنويونو لپاره د اوس او راتلونکي وخت لپاره کارول کيږي او د هغه کړنوييونو لپاره، چې پرېکړونى نه لري، د تېر وخت لپاره هم.

زه ځم، زه لاړم، زه خورم،ما وخوړه، خو.. نور لاندې.

لومړى ١ ٢ – ما، چې د تېروخت د هغه کړني لپاره کارول کيږي، چې پرېکړونى ولري، په دې پوهېدنه، چې دا کار په يو څه د څه د کړو سره سرته رسيږي. ما وخوړ(ه)

تکيه اړ- او ځانيز ٤٢ .

و لومړى ٢ ته: د ډېرګړو د کړنو لپاره دا نومځاينيوى ،، ما، موږ، ...،، نه بدليږي.
موږ(تاسو، هغوي) وخوړل ( لاړو) .

يادونه: پوښتننومځاينيوي دي: څه، چا. که موږ دلته پوښتن نومځاينيوي د زه او ما په ځاى وليکو، نو دا چا د کړوني لپاره راځي او په پرېکړوني کې نه راځي.

بېلګه: څوک څوک وهي. چاڅوک وواهه.

و دويم ته: تکيه اړ نومځانيوي په دوه ډوله دي:

دويم ١ – د مخه تکيه اړ نومځاينيوي دي: را ، در، ور

دويم ٢ – پسي تکيه اړ نومځايميوي:مې، دې، يې، مو( دا د موږ او همداسې د تاسو لپاره کارول کيږي)

و دويم ١ ته- دا دوه ځايونو کې يا دوه ډوله کارول کيږي يا که له کړونو او نه کړونو سره نومځاينيوو(رېکتوس - او اوبليکوس) حالتونو څخه و مخ ته لاړ شو، نو په دواړو کې کارول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم ۱ ۱ – که دا نومځاینیوي د کړونو په ځېر وییونو و مخ ته راشي یا ورسره نښتي یا سلېښ وي، نو د کړنوییونو سره لوریز کړنوییونه په ګوته کوي، لکه راځم، راځي، ورځې، ورځي، ورځی....

بله بېلګه: راکوې، ورکوم، درکوي او نور.

و دویم ۲ ته: دا هم دوه ډوله کارول کیږي یا ښه یې په دوه حالتونو کې کارولکیږي.

دویم ۲ ۱ – دا تکیه اړ نومځاینیوي تل په یوه نوم، نومځاینیوي او یا یو څه پسې تکیه وي.

که دا نوم یا دا یو څه یانومځاینیوی د پرېکړوني په حالت کې وي، نو پسې کړنه راځي یا که کړنه پسې راشي، نو دا پسې تړلی نومویي یا څه یې پرېکړونی دی.

بېلګه: ته مې ووهلې، زه یې ګوزار کړم. هغه دې راوړ. کور مې واخست.

.



یادونه: ګورو، چې موږ په پښتو کې همدا دوه نومځاینیوي ، زه ،ما او... لرو، چې د کړوني او پرېکړوني لپاره کارول کیږي. له دې څخه داسې پوهېږو، چې د لومړي او دویم حالت یا د کړوني او پرېکړوني حالت لپاره.

دویم ۱ ۲ - که ولرو: (را،در، ور)( څخه، سره،کره،پورې، باندې، ته.....)

دلته دا پوره یو حالت دی، چې کېدی شي د پسېځاینیوو حالت یې وبولو، ځکه، چې دا و مخ ته تکیه اړ نومځاینیوي، ټیک وپسېځاینیوو ته تکیه دي او نه بل څه ته.

دا اوس د ځانیزنومځاینیوو سره څنګه لیکو؟

له ما سره (څخه، کره، پسې) = را سره(څخه، کره، پسې) له دې لرو چې:

را = له ما

تر ما پورې = را پورې دلته بیا را = ترما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما کې = را کې له دې لرو:  په ما= را

پر ما باندې = را باندې.له دې څخه لرو: پرما = را

و ما ته = را ته. له دې څخه لرو: و ما = را

له پورته څخه لاس ته راځي، چې: له، په ،پر، تر ، ته، باندې...... مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو د اړونده پسې نوم یا نومځاینیوي دنده بدلوي. دلته د ،، ما ،، ، چې د کړوني او پرېکړوني لپاره په بدل ډول کارول کیږي، دلته یې دنده، له ،، د ،، سره،

چې ،، دما کور،، لیکل کیږي او ،،د ما،، د خاوندوالي نومځاینیوي کیږي او همداسې د پسېځاینیوي حالت کې هم د د ،، ما ،، دنده د ( له، په ، پر، تر ....) سره په اړونده ډول بدلیږي.

دا یداونه دې ورسره د نورو روښانونو له امله مل وي: که د ،، ما ،، کړنوی وي، خو دا د رېکتوس یا پرې کړوني حالت دی او که د پرېکړوني کړنوی پسې راشي، نو پرېکړونی یا

.



اوبلیکوس دی او که نه، نو دابیا د نهکړونو حالت دی، چې په اړونده ځای کښې به روښانه شي.

په پورته پسېځاینیوي اړیکتېنګووني کې دا هم غوره ده، چې:

۱ - له ،،له،، سره:  څخه، کره، پسې ټاکلکیږي او له څخه، سره ، کره پسې سره ،،له،، یواځنی ټاکلکیږي.

۲ – له  ،،تر،، سره ،،پورې،، یو یواځنی ټاکلکیږي.(دا یو ویاځنی په دې پوهېدنه چې تر یواځې هلته راځي، چې پورې یې پای کې راځي او پورې هم هلته راځي، چې تر وي ،، تر کور پورې،، بل ډول ناسم دی او بس).

۳ - همداسې له پر سره باندې او په څټ له باندې سره پر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ - له ،،و،، سره ،،ته،، او په ځېږ

دا اړیین دي، چې بیا هم ګوته ورته ونیسو، چې، له، تر، په، پر، و او که نور په مدې ژبلاریزه ډله کې راځي، بل ځای کې ځای نه لري، د موږ ژبپوهان او ژبمینه وال یې دا ،، تر ،، ډېر کله ناسم کاروي.

یوه غونډله او شننه یې:

ښځه و خپل ورور ته د خپل مېړه خولۍ ورکوي.

په پورته کې ښځه کړونې، وخپل میړه ته (د پسېځاینیوي حالت پوره کونه)، د خپل مېړه( خاوندوالي حالت پوره کونه)، خولې ( پرېکړونې حالت) ورکوي( کړنه).

پای لاس ته راوړنه: موږ د دې لیکنې سره داسې وښوده یا ښه یې: بیا نوره هم روښانه کړه، چې پښتو څلور حالتونه لري: کړونی، پرېکړونی، خاوندوالي او د پسېځاینیو حالت ( دې ته دې پام وشي، چې څنګه ښه نومول کیږي).

یوه غوره یادونه: د موږ ډېر ناسمونونه له همدې مورفیمونو له ناسم کارونې سره و منځ ته راځي، نو ما هم لږ زیات پام و همدې ته وکړ.

اړیکټېنګوونې تکرار... ۴۵ .

و دویم: ۲ ۲ ته: که ولرو: کور مې کوچنی دی، نو دا د ځانیز نومځاینیوي سره دا سې لیکو: د ما کور کوچنی دی، په دې پوهېدنه چې د ،، ما ،، سره یو بل مورفېم ،، د ،، مل شو او ،، ما ،، دنده یې بدله کړه.

د مخه مو په لیکنه کې ولېدل، چې هلته ،، مې ،، د ،، ما،، په پوهېدنه وو.

د ژبې د پیداښت په بنسټ پوهېږو، چې لرو: د ما کور کوچنی دی. دلته خو بې له ،، د ،، څخه، چې ،، ما ،، یواځې وي، څه نه پوهېدل کیږي او ،، د ،، هم دیوه مورفېم په څېر خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو ،، د ،، له ،، ما،، سره یو ځای د خاوندوالي نومځای نیوی کیږي ( دلته دې فکر وشي، چې دا ،، د ما،، نومځاینیوی شو او که ؟؟؟؟) چې د خاوندوالي حالت اړیکټېنګوونی غوره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته لیکوچې: دما کور کوچنی دی. دا به د خاوندوالي اړیکټینګونی وبولو، چې دی.

دلته نو ،، د ،، څه شی دی او دنده یې څه ده؟

بیا: دلته ،،د،، یو مورفیم دی او کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دنده یې باید بل څه وي او هغه داده، چې د لته د ،، ما ،، دنده بدلوي، چې دا ،، ما،، په مرسته د خاوندوالي نومځاینیوی شو او د ،، ما ،، دنده یې د کړوني څخه و د ،، د ،، سره مل د خاوندوالي – یا نه کړوني نومځاینیوي و ،، د ما ،، ته راوسته.

دا بیا روښانه په ګوته کوو، چې ،، د ،، یواځې او یواځې همدا دنده لري او بس.

دا حالتونه یا اړیکټینګووني د پوښتنو په بنسټ رامنځ ته کیږي

یادونه: دا لیکنه مې هم څه وخت د مخه لیکلې، چې دامي لا نه وو څېړلي، چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده.

پیل یادونه: په پیل یادونه کې به دا په پام کې ونیسو، چې ما دا اړیکټینګووني د الماني له حالتونو یا اړیکټینګوونو څخه څېړلي، چې پښتو حالتونه یا اړیکټینګووني یې ورسره سر نه خوري، خو کټه مې ترې اخستې او پل په پل به په دې لیکنې کې د دې ستونځو لپاره اوبي ګورو ( ستونځوبی لکه ګړوبی)

نومیناتیوNominativ (له لاتین څخه، نومونی یا نومونیز)



یادونه: دا چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده، نو نومیز یا نومیناتیو په پښتو کښې نه شته او دا نومیزپه پښتو کښې کړونی دی.

په ګرامر کې د یوه اړیکټینګووني نومونه ده، چې له هرڅه څخه دمخه ( دمخه مې ناسمه،، د هرڅه له مخه،، لیکلی وو) په جمله کې د شي د نخښونې په چوپړکې دی، د دې له پاره دا هم تیپیکي یا نومه-ونییز دئ چې د یوه شي د خپلواک کارونې له پاره رامنځ ته کیږي ( دا په دې پوهېدنه، چې بې د بل له واکه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادنه: یوې له مخه تېرې یادونې سره موږ نومیز اړیکتېنګوونی په پښتو کې نه لرو او دا په پښتو کښې کړونی اړیکتېنګوونی دی.

لنډ: دا اړیکتېنګوونی دی، چې د ،،څوک-، چا – او څه اړیکتېنګوونی،، بلل کیږي، د یوه اړیکتېنګووني سیستم په توګه رامنځ ته کیږي، چې دا نومیناتیو – اکوزاتیوسیستم بلل کیږي.

بیا: د نومیناتیو یا د ،، څوک-،،چا - ،، او ،،څه اړیکتېنګوونی.

موږ د ګړنو یا بوختوالي له مخې د دوه ډوله لیکنو سره مخامخ یو:

لومړی:

یوه یادونه پسې شته

سپین یا هغه وکار ته ځي

سپین یا هغه و کار ته لاړ

سپین یا هغه به وکار ته لاړ شي

سپین یا هغه و کار ته تللی وو

څوک و کار ته.......

سپین یا هغه



زه و کار ته ځم

زه و کار ته لاړم

زه به و کار ته لاړ شم.

زه و کار ته تللی وم.

دویم ډول یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه منه خورم

زه به منه وخورم

ما منه وخوړه

ما منه خوړلې وه.

لنډه يادونه: وروسته به وګورو، د ،، زه کا رته لاړم،، په ځای به سم ،، زه وکار ته (و)لاړم،، سم وليکو. د ژبلار او په ژبلار کې د ما د نوو ميندنو په بنسټ ( دا دې هملته ( همهغلته) وکتل شي).

دا همداسې د دويم کس له پاره ته او تاسې راځي او د ريم کس له پاره هم هغه او هغه راځي( په دې دريم کس کې ليکنه يو ډول ده، خو د ويلو څخه برېښي، چې لومړی ه ځرګنده يا روښانه ه ده او په دويم کې بيا دا پڅه ه ده او که بل ډول يې بولی. هغه زور او زورکی مې ښه نه راځي، چې په پښتو کې نه شته)

يعني په دريواړو کسانو کې يې توپير يو ډول دی، چې د کړنې پرته يې په څو کړنو کې پوښتننومځاينيوی هم بدليږي، نو له دې امله دا د څه - ، چا- او څه حالت دې.

مور و کار ته ځي.

څوک و کار ته ځي؟ ځواب: مور

کاليمينځی خرابيږي.

. اړيکټينګووني تکرار... ۴۸ .

څه شی خرابيږي؟ ځواب:کاليمينځی

يادونه: و ماته هم دا نومونه توکلې د ليکونې ( قلم) خولې ته راځي.نه پوهيږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمينځي،کاليمينځی، کاليمينځونی يا کاليمينځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مينځلو اله. څنګه مو چې خوښه وي.

د کاسوس رېکتوس او کاسوس اوبليکوس کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه: دا لاندې څېړنبرخه نيمګړې ده، خو وروسته په نورو ليکنو کې پوره شوې.

کاسوس رېکتوس د نوميز او اکوزاتيو حالت لپاره د اوسمهال لپاره کارول کيږي. يوه ځانګړنه شته او هغه داسې ځانيز نومځاينيوو کې اوبليکوس د الماني و اکوزاتيو ته کارول کيږي. کاسوس اوبليکوس تل کارول کيږي، که يو ادپوزېشن په نوم تکيه کوي. ځانګړنې په پوستپوزېشنونو کې شته، چې ،، کې، باندې، ته، د پاسه، زيات په رکتوس کې وکارول شي. کاسوس اوبليکوس د تېروخت بڼه کې نوميز حالت کې هم کارول کيږي.

يادونه: دلته دې اندونه سره ګډ شي. دا څېړنه بل ځای کې پوره څېړل شوې.

دا نسبتي وی و پسې ځاينيوی ياپوستپوزېشن ،، ته،، ته يو اوبليک دی. د الماني داتيو څنګه والي ته انډول دی او له دې سره د پوست پوزېشن په څير د موخه لور (چېرته) دنده لري.

بيلګه: و کور ته ځم.

پرمېز *(اړيکتينګوونی)* باندې *(اړيکوی)* د انګورو *(خاوندوالی اړيکتينګوونی)* له جنډې *(* اړيکتيګوونی*)* څخه *(اړيکوی)* انګور *(نوم)* له ځان*(اړيکتينګوونی)* سره *(* اړيکوی*)* وتا*(* اړيکتينګوونی*)* ته *(آړيکوی)* درووړه.

ګورو، چې دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د اړيکتينګونو مورفېمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

دلته ټول اړيکويونه پسې ځاينيوي يا پوستپوزېشنونه دي.

د مورږ ستونځې له ژبلار سره چېرته دي؟



مورږ په رښتيا په خپله ژبه کې ډېرې ژبلاريزې ستونځې لرو. ما چې خپل څه باندې دوه کاله د مخه ليکلي وو، اوس و ما ته په ځانګړې توګه په حالتونو کې ډېرې ستونځې ليدل کيږي، چې په اوسنيو ليکنو کې مې سمې کړي.

ما ليکلي وو: زه باغ ته ننوتم. باغ نوم دی. دا حالت ،،باغ ،، کړوني دی. ،،ته،، پسې ځاينيوی دی، نو بايد چې له نوم څخه د مخه د دې پسځاينيوي اړونده مورفيم ورزيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وي، چې غونډله سمه شي او هغه د یوه ،، و ،، له نوم سره د مخه باید ورزیات شي.
اوس به يې سم ولیکو: و باغ ته ننوتم. نوره به هم ښه وي یا به غوندله پوره شي، که دا زه ورزیات شي، چې ،، زه و باغ ته ننوتم،،. دوه نورې غونډلې.

پخوا مې لیکلي: باغ ته ننوتم، باغ کې ...، د باغ نه ووتم. دا کلیوالي دي، خو معیاري یا ښه يې ژبلاریزې ناسمې دي. دا به سمې داسې ولیکو: و باغ ته..، په باغ کې...، له باغ څخه...

په دې هکله مې لیکنې شته. د ما یوه هیله: که هر څا یو څه سم ولیکل، خو دا د بل چا لپاره پروا ونه لري او ودې منې او ناسمون يې تل باید سم شي.

لاندې به کلیوالي لیکنې او معیاري لیکنې سره یا ښه د حالتونو غونډلې سره په ګډه وګورو:

| | |
|---|---|
| زه باغ ته ننوتم | زه و باغ ته ننوتم. |
| زه باغ کې یم. | زه په باغ کې یم. |
| زه د باغ نه لاړم او نور. | زه له باغ څخه لاړم(ولاړم) |
| د ما سره | له ما سره |
| په میز شته | پر میز باندې شته |
| ما پورې راشه یا | تر ما پورې راشه |
| تر ما راشه. | تر ما پورې راشه |

انګلیسي نوموېونه، چې د یوه اړیکټینګوونې اړوند دي



بیا او بیا لیکم، تر منځ...، ترمخه، ... او او دا ټول ناسم دي. ،،تر،، یواځې او یواځې د پسېځاینیوي مورفېشم دی، چې دا پسېځاینیوی يې ، پورې دی او له نوموي څخه د مخه راځي، چې و هغه ته پوهېدنه وړي اوبس.

دا مو هم باید په پام کې وي، چې پښتو یواځې او یواځې پسېځاینیوي لري او دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې، ته، سره، څخه، کره، باندې، کې، او نور یې تاسو ولیکئ.

ډاکټر ماخان مېرزی شینواری

ګرانو ژبپوهانو! مرسته وکړئ:

زه و ټولو ژبپوهانو ته سوا ل او زاري کوم، چې ویې لولئ، په دې کښې فکر وکړئ او له ما سره یې د سمون مرسته وکړئ او یا یې را سره ومنئ.

پوهېږم، چې د داسې لیکنو سره تاسو د ما له لیکنو څخه پرته د بل چا له لیکنو سره نه یاستئ مخامخ شوي.

موږ د موږ په ژبه کښې ډېرې ژبلاریزې ستونځې لرو، چې ناسمونونه یې هم پر همدې بنسټ باندې دي. د موږ ژبپوهان پردې نه پوهېدل یا تراوسه پورې نه پوهېدل، چې پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده او له دې امله یې هم نه شو کولی پر ژبلار باندې یې وپوهېږي. دا د ژبې ګرامر ما د دې اېرګاتیو ژبې پر بنسټ باندې څېړلی او ډېر پر زړه پورې دی.

موږ دلته هغه زیات ناسمونونه د ،، تر ،، له خوا څخه لرو، دا هم له دې امله دی، چې موږ د پښتو ژبې پر کاسوس، کاز یا اړیکتیېنګونو باندې نه پوهېږو، نو د دې ناسمونونو سره به هرو مرو مخامخ کېږو. په ژبلار کښې د ژبو د ټولو وییونو ډولونو یا ټولو ویکو لپاره د کارولو، ځانګړې لارې شته، چې د هغې له مخې سره یې د دندو پر بنسټ باندې ژبلاریز لیکلی شو.

د معیاري ژبې پېژند:

یوه معیاري ژبه کومه ده؟



یوه معیاري ژبه یوه معیاري شوې یوګونې ژبه ده، په دې پوهېدنه، هغه ژبه چې لږ تر لږه د نورو ډولونو په څنګ کښې یوه ټاکلې د یوګونې ژبې په څېر معیاري شوې بڼه ولري.

د ژبې معیار نو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبې د ټولو شته کليوالي ګردودونو څخه را غوره شوی ليکدود او ګړدود دی، چې د ښوونځي، پوهنتونونو او کتابونو ليکل او پر ځګه سويه( چې د موږ ژبپوهان اکادميک ژبه ورته وايي) خبرې ورباندې کيږي، د وييونو هرډوليز کتابونه يا دکشنريګانې ولرې يا ورباندې ليکلکيږي.

معياري ژبه داسې ده او داسې بايد شي يا وي، چې د هرګړدود کسان ورباندې وپوهيږي.

کليوالي ژبې:

د کلو د ويلوو ژبې، نو د هر کلي په ګړدود خبرې دي، چې پښتو درې ستر ګړدودونه لري لکه کنداري، د لويې پکتيا او ننګرهاري ګردونونه دي. نو خبره اوس په کليوالي او معياري ژبو کښې ده او نه د معيار او ژبې کښې. دا په هرځای کښې خپلې ګټې لري او خوند. که تاسو يو تياتر يا نورې ټوکې ټکالې راواخلی، نو دا و ماته په هغه کليوالي ژبه خوند راکوي، خو د نورو کسانو او د خپلې کسانو سره چې کښېنم، هلته راته هم کليوالي خبرې خوند راکوي، خو داسې په رسمي او داسې نيمه رسمي ځايونو او که د بلې ژبې د ګړدود خاوندانو سره کښېنم، نو هلته هم بايد پر معياري ژبې باندې خبرې کوم.

پښتو، چې د پښتنو ژبه ده، بايد معياري شي او دا دنده د پښتو د استادانو دنده ده. بايد دا ژبه ژبلاريزه شي او ژبلاريزه کړي. بايد د هر ويي پر پوهېدنه باندې وپوهيږي او همهغسې ژبلاريز سم يې وکاروي، چې د ژبې نور ليکوالان او لږ تر لږه هغه د لوړو زدکړو د ليک-لوست افغانان د هغې له کاروني څخه ګټه پورته کړي، چې هغه ورته د ژبپوهانو له لورې څخه ښول شوې ژبه بېرته سمه ورکړی شي. د ژبې هر د لوړو زدکړو ليکونکی، چې دا ناسمونونه کوي، له دې څخه بايد و پوهيږو، چې نوموړی پر ژبلاره باندې سم نه پوهيږي، چې بايد د ژبپوهانو له خوا څخه ورته سمه و ښوول شي.

موږ په لاندې ډول و مخ ته ځو:

--- ژبلاريزوالی او سم-انديزوالی يا منطق



داسې پيل کوو: دلته د هغو وييونو ناسمون په ګوته کوو، چې ژبلاريز ناسم وی او فکر ورته هم نه وي شوی او نه شو يا نه شي کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو ژبپوانو او ژبمينه-والو!

دا څه چې زه اوس ليکم، دا په کازوس، کاز(کېز) يا اړيکتينګوونو کښې پوره روښانه شوي.
خو دا بيا هم ناسم کارول کيږي، چې غوښتل مې مخه يې ونيول شي.

تر ټولو لوی زيان يا سر. کال تر ټولو ډېر انګور شوې دي.

د ژبې تر ټولو کوچنی. د تاريخ تر ټولو تود اوړی.

و پورته ته پام: دا ،، تر ،، خو چې څنګه کارول کيږي، وروسته به و ښوول شي، دا له ،،
تر ټولو،، سره څه نه شته، و د ې ته دې ګران لوستونکي لږ پام وکړي، چې دا تر ټولو لوي
يا – ډېربه نو څه شی وي؟

تر ډېره يا تر ډېره بريده: دا ،، تر ډېره بربېده،، څه نه شته، ،،له ډېرو بريدونو څخه،، به څه
وي، ځکه چې بريد يوګڼ دی، نو دلته بيا ډېر- چې ډېر ګڼ دی- څه نه دي ورک کړي او نه،
همداسې نه ،، تر،، او نه ،، تر ډېره،،.

لرو: ،،له وعدو تر عمله!،،

دا څه نه وايي، ځکه چې دا ،، له،، او ،،تر،، مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري،
خو پوهېدنه و نوموييونو ،، وعدو آو عمل،، ته وړي او هغه غوره وييونه چې پسېځاينيو يا
اړيکوييونه ،،څخه،، او ،،پورې،، دي او په يوه غونډله کښې غونډالغړي جوړوي پرېښوول
شوي، چې دا ژبلاريز هغه غوښتوني څه نه وايي او نه څه ژبلاريز روښانه څه کولی شي.
نو سم يې لرو: ،، له وعدو څخه تر عمل پورې،،.

پوهېدل او سم ليکل سره توپير لري!!! ،،تر ۵۰ ډېر ټيپان شوي دي،،.

ژبلاريز ناسم دی. تر ۵۰ پورې ټيپان کېدی شي، خو ،،تر ۵۰ ډېر،، ژبلاريز ناسم دی.

،،... سره تر ليدو وروسته ويلي،،، ژبلاريز ناسم دی.



سم يې: ،، له لېدو څخه وروسته يا له ليدو پسې( ،،پسې،، هم اړيکوی يا پسېځاينيوی دی،، يا
،، تر ليدلو پورې،،).

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تر پښو لاندې کوي. يو څه د يو څه لاندې کيږي او نه تر لاندې کيږي.

- د نړۍ تر نيمايي زيات وګړي. سم يې: له نيمايي څخه ډېر وګړي

له مخکې تګ هم راوګرځوله. له و مخ ته تګ څخه راوګرځول

او د نړۍ په کچه د کرېکټ

و موږ ته پيداښت دا ژبه ډېره روښانه راکړې يا انسانانو دا ژبه په پيداښتي توګه روښانه و منځ ته راوړې او همداسې روښانه بايد بېرته ورکړ شي. دا په ژبه کښې دا ناسمونونه داسې توکلي يا شعوري او غورنګي و منځ ته راځي يا راغلي دي.

--- ،،تر دې مخکې،،: دلته،، تر،، پوهېدنوړونکی مورفېم دی او خپلواکه پوهېدنه نه لري، دې مهال وی دی او مخکې هم څه نه شته، ځکه چې مخ نوموی دی او کښې اړيکوی دی، چې يواځې د يو څه ،،په مخ کښې،، شته.

--- تر راستنېدو وروسته: ناسم دی. سم يې: له راستنېدو څخه د مخه يا له راستنېدو پسې.(ځکه پسې هم اړيکوی دی او نه وروسته).

--- تر ځمکې لاندې: داسې څه نه شته، خو د ځمکې لاندې څه شته. ،، د ځمکې لاندې ،، دا د خاوندوالي اړيکتيينګوونی دی.

--- تر ۲۰ ډېر... ځواب ترلاسه کړی: داسې څه نه شته، خو ،،له شلو څخه،، ډېر شته او دا داتيو اړيکتيينګوونی دی.

--- وړاندې:

لولو: يو چا څو کاله وړاندې اعلان وکړ چې،...په پورته غوندله کښې دا ،،وړاندې،، موخه-ور نه دی او ولې؟

روښانونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې: یو څه له یوه بل څه څخه  په څه ځاییز واټن کښې ځای لرل. دا د وخت سره هرو مرو باید سر او کار ونه لري.

د مخه: دا د وخت له مخې  څخه یو څوک په یو وخت کښې له یو بل چا یا څه څخه د مخه یا د تېر وخت په یوه واټن کښې  شتون لرل.

یوه بېلګه:  سپین هلته له ما څخه لږ وړاندې ولاړ دی، هغه له ما څخه دلته د مخه راغلی او د سین په مخ کښې ناست دی.

دلته یا د مخه لیکونکی ناسم دی او یا زه، نو دا د سم ښوونه به د چا دنده وي؟

مخکې: څه پښتو وی نه شته،  خو  دا ،،مخ کښې،، یې ګډ لیکل شوی.دلته خو مخ نوم دی او دا کښې پسې ځاینیوی یا اړیکوی دی، چې په ګرامري لیکنه کښې  د ،، مخ،، و مخ ته مورفېم ،، په ،، راځي، چې پوهېدنوړونکی دی او داسې یې لیکو: په مخ کښې. زه چې راغلم، ګورم، چې هغه مې په مخ کښې ولاړ دی.

هغه د ما نه مخکې راغلی. سم یې: هغه له ماڅخه د مخه راغی دی.

زه لږ د مخه راغلم، ګورم، چې هغه هلته له ما څخه یو څو متره وړاندې د دړې په مخ کښې ولاړ دی.

دلته مو ولېدل، چې  دموږ ټولې ستونځې په اړیکټینګوونو کښې دي، دا ما ښه روښانه کړې دی، که په ژبه کښې لاسوند هم نه لرم، خو داسې ده او کینه به سره د زړونو څخه و باسو. غوره مو د ژبې سمول او سم یا په معیار برابر لیکل باید موخه وي او نه سیالي.

--- څنګه پوهېږو، چې یو څه نوم یاخویوبی دی؟

،،له دې مخکې نن پنجشنبه له فرانسې نه د بنګله دېش پلازمېنې ډاکې ته له رسېدو سره سم،،

له دې څخه د مخه نن پنجشنبه له فرانسې څخه د بنګله-دېش پلازمېنې و ډاکې ته ......

ډېرو ګرانو او منلو ژبپوهانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پر یو څه باندې غواړي، څه ولیکې او یا یو څه را ته سم کړي، هیله ده، لیکنه مو روښانه او پر پوهنیزه دلایلو باندې ولاړه وي. دا چې داسې هم کېدی شي، دا یوه پوهنیزه وینا نه ده.

پښتو یوه ځانګړې یا ډېره ځانګړې ژبلار لري

--- پښتو د کړنوییونو بېه بدلېدنه نه لري.

د پښتوکړنوییونه د پسې تړلو یا پوهېدنغزوونو سره غزیږي. خورم، ځو او نور

--- ښتو د نوموییونو بېه بدلېدنه نه لري.

او پر ځای باندې یې د خاوندوالي او د اړیکوییونو په ځای کښې د نوموییونو پوهېدنه له مورفېمونو، د، له، پر، په، تر، و سره وروړل کیږي ......................

--- پښتو د خویوییونو هغسې جګېدنه لکه الماني یې چې لری، نه لري او خوییونه یې په ډېر، زښتډېر او خورا ډېر سره جګیږي.

--- ناسم ورننوتلي څه -لکه نوري ژبې هم؟- نه منې، ژبلار یې ډېر روښانه، خو ستونځمنه ده، چې د ژبې څخه پرته و سم-اند یا منطق ته هم پوره اړتیا لري، لکه سړ:ال تر ټولو دېر انګور شوي دي. دا غونډاله هېڅ نه وایي، چې دلته باید له ژبلار څخه پرته لږ منطقي فکر هم وشي، چې ،،تر ټولو،، څه نه شته ژبلاریز او نه څه پوهېدنه لرې

چې د تېرې جنورۍ پر ۲۰مه سپینې ماڼۍ ته د ټرمپ له راګرځېدو راهیسې له نومړې سره د لیدو لپاره واشنګټن ته ځي.

،،له مکرون سره تر کتنې وروسته،، ژبلاریز ناسمه ده
سمه یې: ،، له مکرون سره ،،له کتنې څخه،، وروسته یا له مکرون سره ،،تر کتنې پورې،،.

،، نومړې مخکې ویلي و،، ژبلاریز ناسم ی او

سم یې: ،، نومړې د مخه ویلي وو یا له دې څخه د مخه ویلي وو،،.

د بې بې سي د یوې لیکنې د یوې برخې و سمون ته یو وړاندیز:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د نوکانو په منځ کښې د ما ليکنه ده، چې دا مې ژبلاريز سمه کړې ده.

تمه (هيله) وه چې سږ کال به (د) مونيخ امنيتي کنفرانس تر ډېره ( تر ډېره( يواځې څه نه وايي) ګومانه پورې يا پر ډېر ګومان باندې) پر دوو شيانو ( باندې) څرخي: لومړی دا چې (و) روسيې ته له تسليمېدو( څخه) پرته (په)اوکراپين کې جګړه څنګه (و) پای ته رسېدای شي او دويم دا چې اروپا څنګه د خپلو دفاعي لګښتونو (و) زياتولو ته اړتيا لري.

خو د دغه کنفرانس تر ټولو ( تر ټولو څه نه شته، نو ډېر-، خورا ډېر) جګپوړی امريکايی ګډوال( ګډونوال)، مرستيال ولسمشر جيډي وېنس، له دوی (څخه) پر يوه موضوع (باندې) هم تم نه شو.

هغه برعکس د بريتانيا په ( پر) ګډون( باندې) د واشنګټن پر متحدانو (باندې) راوګرځېد او (پر) تونده ژبه ( باندې) يې ( په) دغو هېوادونو کې د ناسمو او غلطو مالوماتو د خپراوي ( خپرولو) او د بيان ازادئ محدودېدو په (پر) تړاو (باندې) ( له ) څرګندونو سره ټول استازي حيران کړل.

دا ۲۰ دقيقې چې هغه پکې ( په دې کښې) وينا وکړه ډېرې عجيبې وې او ( په) تالار کې د حاضرو استازو لخوا ( له خوا څخه) په ( پر) ډېره چوپتيا (باندې) بدرګه شوې.

يادونه: ۱ – پوهېدل او سم ليکل سره توپير لري.

۲- په پورته کښې ،، د ، له، په، پر، تر،، مورفېمونه دي، چې پوهېدنوړونکي ( دلته د ونومويونو ته بله پوهېدنه وړي) دی او ،، څخه، سره، کره، پسې، کې يا کښې، باندې، ته،) پسځاينيو يا اړيکوييونه دي. دا اړيکنيوونی د اړونده مورفېمونو سره، چې له نومويونو څخه د مخه راځي او د هغوي پوهېدنه له کړوني څخه و نه کړوني اړيکتيکووني ته وړي.

د موږ ټول ناسمونه يا هغه ډېر يې د لاندې داتيو حالت يا په اړيکتينګووني کښې دی.

لند يې بيا راوړو:

--- له ما-، له چا- يا له څه څخه(سره،کره،پسې).

(c) ketabton.com: The Digital Library

.



--- تر کور -، تر چا-، یا تر څه پورې

--- پر مېز -، پر چا- یا پر څه باندې

--- په کور - ، په چا- یا په څه کښې

--- و هغه -، و چا-، و څه ته دلته دا درې غونډالبرخې لیکلشوي دي او د ،، ـ ،، د ،، ته ،، د تکرار لپاره ده.

دا پورته په پښتو کښې اړیکتینګوونې دي او تل د یوې غونډلې په مځ کښې او یواځې په همدې لیکنډول راځي، بل ډول لیکل یا یو څه په دې کښې له لیکنو څخه غورځول یې ژبلاریز ناسم دي.

له چا، ترچا، په چا ، پرچا، و چا، دا نه کړوني دي او دا له، تر،پر، په، و مورفېمونه دي، چې و نوموییونو ته پوهېدنه وړي، ځکه چې دا ،، چا،، د تېر مهال لپاره کړونی او د اوس مهال لپاره برېکړونی دی. او دا نور څخه، سره، کره، پسې، پورې، باندې، ته اړیکوییونه، چې له خپل اړونده پوهېدنبدلشوي نومویيونو سره راځي.

داسې لیکنې لکه ،،مخکې تر دې،، یا همداسې تر دې مخکې( دا مخکې ګډوله وی نه دی دا دوه وییونه دي، مخ او کې یا کښې، نو ژبلاریزې نه دي او ژبلاریز یې، ،،له دې څخه د مخه،، ده.

مورفېمونه د، له ، په، پر، تر او و یواځې او یواځې له نوموییونو څخه، ځکه د مخه راځي، چې و هغو ته پوهېدنه وړي او دا کړوني له اړیکتینګووني څخه و نه کړونې اړیکتینګووني ته راولي. دا پرېپوزېشنونه نه دي، پرېپوزېشنونه خپلواکه پوهېدنه لري.

په دې کښې کله، کله نه غوښتوني ناسمونونه راځي.

له چا - ، له څه څخه(سره، کره، پسې)

په چا -،په څه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر چا-، پر څه باندې( پورې ( دا پورې د پولې پر پوهېدنه باندې نه ده))



اړيکوييونه ولې؟

دا اړيکوييونه د غونډالي له يوې برخې څخه د غونډالي له بلې برخې سره اړيکي نيسي

اړيکټينګووني؟ ولې؟

دا ځکه اړيکټينګوونه دي، چې د پوهېدنوړوني اويکې د ټيکوي د پسېځاينيوو سره.

په پوهنه کښې سرې و يوه فکرکونې ته اړ کيږي.

يو ژبنی توکی غوره دی، څومره او ولې؟

دا څه د دې څه جوړښتبرخه ده.

د الماني او انګرېزي پر څېر باندې

په څېر همدا د څېر پوهېدنغزونه ده

د ژبې د سم ليکلو مسؤليت به نو د چا په غاړه وي؟

مرسته دې وکړي، بې له قيد او شرط څخه.

،،تر دې مخکې ،،

دا پورته کليوالي وينا نه ده، پوهېدل-کېدی شي، خو وينا هم نه ده. د دې کليوالي وينا داسې ده: ،،د دې نه مخکې يا د دې نه مخ کښې،،. دا ،، تر دې پورې،، ژبلاريزه ليکل-کېدی شی. د دې موخې سمه ليکنه: ،، له دې څخه د مخه،،.

بيا هم د ژبپوهانو مرسته غوښتونې ده.

بايد و هڅېږو، چې ژبه مو ورو، ورو معياری او پر ژبلار باندې سمه وليکو!

ولې د موږ ژبپوهان له دې ناسمنونو سره مخامخ کيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې موږ لا تر اوسه پورې د پښتو پر ژبلار باندې او په ځانګړې توګه پر حالتونو یا
اړېکتېینګوونو یا کاز case، کاسوس Kasus باندې نه پوهېږو او تر څو پورې مو، چې دا



کار و سر ته نه ي رسولی،تر هغې پورې به د خپلې ژبې د سمو لیکنو ونه شو پوهېدلی. د
دې لنډه سمه لیکنه یې داسې ده:

تر کتنې وروسته سپینه مانۍ کې

میدان وردګو کې

تر دې څو کاله مخکې لا د

مشوره: د یوه د باندني ویي لپاره، چې څرګنده او روښانه پښتو ویي نه لرو، نو باید همهغه
ویي و لیکو. په ژبه کښې ښکلی او نا ښکلی نه شته، خو سم او ناسم په ژبه کښې لرو.
ګرامر او ژبلاریزو لیکلو ته مو باید پام وي او د دې لپاه باید پښتو سمه ژبلاریزه ولیکو.

د ژبې مسؤلې مؤسسې مو باید د ژبې معیاري یا سم لیکلو کې له مسؤلیت سره خپلې هلې
ځلې وکړي او دا هیله به د ځان له امله هم وکړم، چې کله، کله د داسې څنګیز کسان هم له
پام څخه مه غورځوئ.

یوه ستره هیله: د موږ ژبه باید معیاري شي او دا د یوه کس کار نه دی............

پښتو او ژبلاریزې نااوبی ستونځې یې

پښتو پنځه زره کلنه ځوانه ژبه ده.

ولې ځوانه؟

پښتو په افغنستان کښې

په افغانستان کې تر ۱۹۳۰ ز ک پورې د افغانستان رسمي ژبه یوائې فارسي وه. په هغه
وخت کې د پښتنو یوه ټولنیزخوزښت بنسټ په جوړېدو(۱۹۳۱ زک ) ، په (۱۹۳۲) د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون او په(۱۹۳۷ ز ک ) کې د پښتوټولنه جوړه شوله، په ۱۹۳۶ ز ک کې د سردار محمدهاشم خان د حکومت په دوره کې پښتو دولتي رسمي ژبې ته پورته شوه، سره له دې، چې په هغه وخت کې پخپله پښتنو هم دومره پام ورته نه دی کړی. په ۱۹۶۴ ز ک د لویې جرګې لخوا پښتو سراسري ژبه ومنل شوه او ملې ژبه هم شوه.



له دې څخه داسې برېښي، چې پښتو ژبې د کار وخت- په داسې لړه سویه- له ۱۹۳۶ ز ک څخه باید پیل شوی وي او قانونې ، د قانون له مخه یې دا په ۱۹۶۴ ز ک بیا ومنل شو، چې په دې وخت کې ورته پښتانه مشران هم داسې لړ را بیدار وو.

سرلښکر یې:

دا خپله دنده بولم ووایم، چې سر لښکر یې همهغه له اول څخه خدای(ج) بخښلی اروابناد وزیر محد ګل خان بابا وو، چې د هغه وخت د واکوالو سره یې د یوه وروور په څېر اړیکې لرودې، په ژبه او هیواد مین انسان وو او د دې توان یې لاره، چې د اروابناد رېښتین صیب له خبرو یې دا پنخه د پښتو ستوري هر یو اروابناد خبیبي، اورښاد بینوا، اروابناد رښتین، اروابناد خادم او اروابناد رشاد روزلي او د وینا له مخې یې سیاسي ستر ملاتړ وو، خو سره له دې هم دې ژبې لاتراوسه هغه خپل قانوني ځای په دولت کې نه دی نیولی.

## د پښتو ژبې وده

له پورته څرګندوني څخه همدا لامل څرګندیږي، چې پښتو ژبه مو په هره پوهنیزه ریښه کې هم پوره ستونځې لري د ژبې تر ژبلار یا ګرامر پورې. د پوهنیزو پوهنتون او د ښوونځي د کتابونو پښتو خوندیونه نه لرو، هغه مسلکي وییونه یې ټول لا تر اوسه پورې عربي دي، چې پښتانه یې د پوهېدني سره د پوهېدلو ستونځې هم لري، خو دوی هم په هغه وخت او لاتراوسه څه نه کوي یا څه نه شي کولی، پرته له ما څخه، چې د شمېرپوهنې څلوېښت کتابونه مې په پښتو ژباړلي او لیکلي د داسې څه فزیک سره، د پښتو د دوه ګرامرونو سره او همداسې څه نورو کتابونو سره، دا چې دا کار څنګه شونی وو، دا به په بل ځای کې ولیکم ( باور وکړئ او لوړه کوم، چې دا مې د ځان ستایلو له امله نه لیکم، خو د نورو یې و دې کار ته راهڅونه مې موخه ده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم باید په کلکه ووایم، چې په داسې حالاتو او دې لږ وخت کې، که څه هم دولتي پوره پاملرنه دومره نه ده ورته شوې، دې ژبې او د هغه وخت دمورږ ستورو د نورو هغه وخت ځوانانو په مرسته دې ژبې ته پوره کار کړی.

دلته مې – له دې لیکنې سره- هغه بنسټیزه موخه په پښتو ژبه او ورسره لرلو ستونځوبیو کې ده.



## د پښتو په ژبلار کې هغه بنسټیزه ستونځې:

مورږ تر اوسه پورې نه پوهېدلو، چې پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده او ما هم تر هغې وخته پورې خپلې لیکنې -چې نه وم پوهېدلی- نه وې لوریزې کړې.

زه به د مورږ ستونځې په اړیکټینګوونو ( پېر، کاسوس یا د الملني فال(حالت) ) کې وڅېړم او په نورو برخو کې هم د دې ستونځو لاملونه ورته دي.

دا چې ژبه مو یوه زړه ځوانه ژبه ده، نو ګرامر یې هم باید د ژبې ځوانۍ ته ورته یا ورسره ځوان وي، دا په دې پوهېدنه چې ژبلار مو له پخوا څخه راته نه دی پاتې - که وي، نو پوره ناپوره به وي- او همدا اوس مو باید چمتو کړی وي. دا چې خپل ګرامر مو لا تراوسه نه لروده او لږ تر لږه په معیاري توګه، نو باید دا ستونځې مو د نورو ژبو په مرسته اوبی کړې وی، چې هغه زیاته ونډه په کې فارسي یا عربي ژبې باید لرودې وی، ځکه چې مورږ د هغه وخت ژبپوهان تولو د هر مسلک هر څه مو باید له فارسي رانیولي وی او هغه مو څه نومونه همداسې مسلکي ، چې لرو یا لرودل هغه لا د مخه له فارسي- چې د مورږ یواځنۍ رسمي ژبه وه – رانیولي وي، نو د مورږ د هغه وخت پوهانو ته اړین نه برېښېده یا نه پرې پوهېدل، چې د فارسي د ښه بلدتیا له امله پښتو اندول ورته ولټوي او ومومي. پښتو چې د زده کړې ژبه نه وه، خو نه دا چې نابلده بلکه پردۍ برېښېده. مورږ د نورو ژبو په مرسته د پښتو ګرامر هم د پښتو د جوړښت سره سم د پښتو ژبلار ترتیبوو، خو د پښتو د نوې منځ یا میدان ته راوتلو له امله مو د پښتو ژبې سره هم باید ستونځې شته وي، چې هغه بیا د ګرامر په لیکلو کې راڅرګندیږي. په دا وروسته وختونو کې هم، که پرته له عربي مو له نورو ژبو څخه د مرستې اخستلو له امله او د ګرامر د توپیروالي له امله، ګرامري ستونځې منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځي، چې زه به يې په دې ليکنه کې هغه څرنګوالي ته ګوته ونيسم او همداسې له بلې لورې موږ. د پښتو ژبلار يا ګرامر د نورو پښتو ژبپوهانو له ژبلار څخه رانيسو او هغو دا کار ځکه سم نه شي کولی، چې دوي پښتو زده کړې، بې له دې، چې سم يې و ژبلار ته ورننوځي. د دې څرنګوالي ته به هم ګوته ونيسم.

په پښتو کې له حالتونو يا اړيکتينګوونو سره لرلې **ستونځې**

پيل يادونه ( ځان ستايينه نه ده، خو اړيين راته برېښي، چې هرځنګه وي لږ تر لږه ستاسو پام دې دما ليکنو ته راواړم): ما له ښوونځي څخه را په ديخوا له پښتو ژبې سره زوره



مينه لروده او اړ چې په څلورم ټولګي کې - دامې په ياد دې، چې - د بېګانو سره بلد وم او نږدې دا اخر شپاړس کاله مې په ژوره توګه د ژبې سره کړونی کار پيل کړی او دا هره

ورځ ډېر ساعتونه، چې لاس ته راوړنه يې د دوه ژبلار کتابونو ليکل وو، په ژبه کې سمونونه ( هغه وييونو ته کتنه شوې، چې موږ. يې ناسم کاروو، دا له سلنې څخه نيولې، چې په پښتو ژبه کې ځای نه لري، تر اوبلن پورې، چې د ،، بهيدونکي،، په ځای يې ډېر ناسم کاروي او دا چې د سويې او معيار لپاره کچه کارولکيږي، دا مې بايد باور وي، چې د موږ. ليکنوکي څوک يا ژبپوهان نه پرې پوهيږي او دا سې نور هم). د دوه ژبلار کتابونو سره مې ژب اړوند اته کتابونه ليکلي په ketabton.com کې يې ګران لوستونکي لوستلی شي او دا مې هيله هم ده، چې که دما ليکنې سمې نه وي، نو ......

اوس هغه ما ژبلاريزې لرلې ستونځې:

بېلګه به همدا له حالتونو څخه راوړو:

موږ. ليکو: د هغه نه، د هغه څخه، له هغه څخه او

د هغه سره، له هغه سره.

ما په ،، له ...څخه او د... سره،، باندې يوه ستره ليکنه وکړه، چې دا مې په همدې دوه ډوله ناسم وليکل، چې ګوندې دا يو دې ،، له،، سره وي او دا بل دې له ،، د ،، سره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تر هغې پورې راته سمه برېښېده، چې پوه شوم دا ، د ،، د یو مورفیم په توګه د یوه نوموي (نوم، نومځاینیوی) سره راځي، چې د هغه واکوالی ښايي، له دې پوهېدنه داسې ده، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفیم دی، لکه د هغه کتاب یا همداسې د سپین کتاب، نو دا را ته له هغې څخه وروسته سم برېښېده او پسې بیا په دې اند شوم، لکه د موږ ټول ژبپوهان تراوسه پورې، چې دا له... څخه دی، دا په دې پوهېدنه، چې دا یو سنترپوزېشن دی، په دې پوهېدنه چې نوموی یې په منځ کې راځي او د موږ ټول ژبپوهان یې ،،سربل او اوستربل بولې،، ، چې زه په رښتیا نه پرې پوهېږم او نه مې چېرته ولوستل، چې ولې.

دا باید ووایم، چې د موږ ټول پوهان او همداسې ژبپوهان هم دېروخت د یوه څه پوره پېژند نه ورکوي او هغه کاروي، چې دا مو هم یوه بنسټیزه ستونځه ده.



اوس هم داسې انګېرل کیږي، چې هغه د انګرېزې from او الماني von لپاره موږ د پښتو اندول ،، له،، بولو یا داسې شاید کله، کله ،،څخه یا نه ډېر کم او که وي، نو له دباندنیو ژبپوهان څخه به ،، له...څخه،، او له ما څخه هم زیات ،، له... څخه،، لیکل - یا بلل شوی وي، چې ،،دما،، وروسته، چې دا د ما میندنه ده، لږ ګوته ورته ونیول شي او

لیکنې پرې یو څو لرم، چې د کتلو وړاندیز یې کوم، چې دا په ژبه کې راته د ما یوه ستره لاس ته راوړنه هم برېښي.له دې سره مې باور دی، چې موږ د پښتو ژبې د دې اړخ ستونځوبیو لار میندلې وي، چې ګران لوستونکي دې هیله ده په غور ولولې.

موږ په پښتو ژبه کې لرو: موږ نومځاینیوي لرو: زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او ... نور او دا په همدې څېره یا په همدې ډول په حالتونو کې د کړونو او پرېکړونو او همداسې نه کړونو لپاره، دا په رد بدله بڼه کارول کیږي،

لکه: ته ما وهې، تا زه ووهلم.

په نورو حالتونو کې باید یو څه بل ډول وي ( پسې روښانه کیږي، خو دا پوره ژور دما په - همدې هکله - لیکنو کې پوره روښانه شوي). دلته دی، چې د from او von اندول ،،څخه،، دی، نه ،،له،، او همداسې نه ،،له ... څخه،،.

په دې کله وپوهېدم یا مې کله ورته پام شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله مې چې دې ته پام شو(وپوهېدم؟؟؟ دا دې لا د تاسو تر مرستو پورې وي)¸ چې پښتو دوه حالتونه رېکتوس او اوبليکوس لري او همداسې کليتيکي ( تر دې وخته پوري مې هم اينکليتيکي ليکل) نومځاينيوي، نو وپوهېدم، چې دا ،، له، تر، په، پر،، او نور خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري او د نومويونو سره يوځای راځي د اړوند اړيکتينګوونولپاره، چې هغه اړيکتينګووني يې، چې دا يې د نومويونو سره راځي، اوبليکوس اړيکتينګووني دي، چې بې له دې هم ناسم دي او دا ځانله ما، زه، تا ... او نور يواځي هم په هغو اړيکتينګوونو کې کومه پوهېدنه نه لري. دې ته به هم وروسته ګوته ونيول شي.

يادونه: ما هم تر هغه وخته پورې ستونځې لرودې، چې وپوهېدم، پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده او تاسو ګران لوستونکي هم له همدې امله دې ته ژور پام وکړۍ.

.



# ولې بايد دما خبره سمه وي؟

د ټولو ليکنو په سر کې:

دا پوښتنه هم ځکه ليکم، چې د ما دا ليکنې به د مورۍ په ژبلار کې د لومړي ځل لپاره وي، نو وبه اندم، چې ناسمونونه يا لږ تر لږ د ځنو اديبانو څه شننيز ګومانونه به ورته پيدا وي، چې دا بايد د خبرو له لارې اوبی(حل) شي.

يو څه چې د هغه ليکنو په هکله پر پوهنه باندې ودانې ليکنې وي، نو تر هغې پورې سمې دي، تر څو پورې يې چې ناسمون پوهنيز نه وي ښوول او روښانه شوی.

د دباندنيو ژبو او د دباندنيو پښتو ژبپوهانو ډېرې ګټې او دا د مورۍ غوندې لرلې ستونځې.

مورۍ چې په هره ريښه کې يو څه زده کوو، نو بې له يوې وتلې دباندنۍ ژبې پوهېدنې ځخه دا کار ناشونی دی، که دا ژبه هم وي. له بلې ژبې څخه مورۍ پوهنيز نومونه هم زده کوو.

چې داسې وي، نو د مورۍ د ژبې په ريښييزو ليکنو کې ولې تول ريښه اړوند شيان وييونه او نومونه مو د بېلګې په توګه پښتو نه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخه مو دې ته ګوته ونیوه، چې ژبه مو ځوانه ده او د موږ مسؤلو کسانو ته دا د عربي نومونه داسې بلد پرېښېدل، چې په پښتو يې زيات نه پوهېدل او يا ورته اړيين نه برېښېدل او يا يې په کې بېخي فکر نه کاوه، دا چې ولې ډېر نور لاملونه هم لري. دوی ورسره اړيين د خپل پښتو وي په څېر بلد وو. دا حالت تراوسه پورې ځکه داسې دی، چې هغه ډېر د ليک لوست خاوندان مو لا تراوسه په همهغه ډول روزل شوي او دا خپله ژبه ورته پخپله يا دومره پوره نه برېښي او اندې، چې دا يې د ژبې وي، خو دې ته فکر نه کوي، چې د خپلې ژبې وييونه يې له منځه ځي. ژبه غزونه سمه ده، خو نه د خپلې ژبې وييونو پرېښودنه.

ژبلاريزې ستونځې هم په همدې توګه. موږ د نورو ژبو په ژبلار يا نورو ژبو نه پوهېدلو، او د همهغه له فارسي ياعربي ژبې له ژبلار مو ګټه اخستې، چې هغه بيا د موږ د ژبې له ژبلار سره ډېر توپير لري.

بخښنه. ليکنه را څخه غزيږي. اوس بېرته وموخې ته.

. کوم سم، ناسم او ولې؟ ۶۵ .

موږ له دباندنيو پښتوپوهانو څخه - دا اوس دما ورته پام شوي- پښتو ژبلاريز څه هم زده کوو. دا چې دوی يا نور ژبپوهان يې په نورو ژبو پوهيږي او په هغو کې لولي، نو د پښتو سره غبرګ ( هغه غبرګ يا غبرګون، چې د موږ ژبپوهان يې د څه موخې لپاره ليکي، ناسم دی) ګرامري توکي له هغو ژبو رانيسي. ما هم له همغو ژبو دا وماته تر اوسه پورې نا څرګند ژبتوکي لکه چې ژبه مو دوه حالتونه، رېکتوس او وبليکوس لري، زده کړل او

همداسې کليتيکي نومخانيوي، چې په مته يې ليکنې اوس تاسو سره په دې ليکنه کې شريکوم.

هغوي هم د پښتو سره دا ستونځې لري، چې له von څخه ‹‹له›› پوهيږي، چې نايم دی. لنډ دا موږ ورسره نابلدو کارولو سره دوي هم بايد نابلد وي. دوي ژبه بايد له موږ څخه زده کړي، خو دوي د خپلو ژبو کره ژبلار لري، خو پښتو بيا دوي داسې کله بېرته ورکولی شي، لکه پښتانه ژبپوهان.

## کوم سم، ناسم او ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بېکاره یم( بېکاره نه یم، خو څه کار نه لرم)، له دې امله مې چې له اند سره ناسم څه وګورم، نو څه پرې لیکنې ته یې ځان اړ بولم.

لاندې پوښتنه کې سم او ناسم څنګه مومو؟

**١ – سپین د طالبانو له بند تر ازادیدو وروسته**

**٢ - سپین د طالبانو له بند څخه د ازادېدو وروسته.**

**٣ - سپین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.**

و ١ – ته: ناسم دی، ځکه چې: دلته له مورفیم ،،تر،، څخه څه نه پوهېدل کیږي او ،، تر ،، پرته له نوم یا نومځای نیوي، څه نه وایي یا څه ور څخه نه شي پوهېدل کېدی. په دې هکله مې ډېرې زیاتې لیکنې کړي.

٢ - سبین د طالبانو له بند څخه، د ازادېدو وروسته.

.



و ٢ – ته: پرېکړه پسې: که ،،رووف د طالبانو له بند څخه وروسته،، وی، خو سمه به وی. دلته نو بیا په

،، ...د ازادېدو وروسته،، ، دلته هم دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفیم دی او په دې ویپنبرخه کې سم نه دی، دا څنګه باید وي؟

له ازادېدو څخه وروسته، دا بیا بېرته دا لیکنه ناسموي.

له دې امله ٢ – ناسم. نو

٣ - سپین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.

و ٣ – ته : ولې باید سم وي:

ځکه چې دا بند د تالبانو دی او نور نو د بند ،،له ازادېدو څخه وروسته،، سم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بېلګه: د سپینغر د کور له لېدلو څخه وروسته

راځی، چې و دې ته نور هم په ګډه پام وکړو.

# په ژبه کې د سم او ناسم ښوونه

د م ک ملګرو څخه مې دا لاندې پوښتنه کړې وه:

روزه مو نېکمرغه.

کوم سم دی او ولې؟

۱ – یما، یتا، د هغه

۲ – زما، ستا، د هغه

۳ – د ما، د تا، د هغه

دلته یې ځواب

. کوم سم، ناسم او ولې؟ ۶۷ .

له ټولو راته ګرانو د م ک ملګرو ( دلته مې پام شو، چې دا غوندله ناسمه ده، ځکه چې له ټولو یا تر ټولو څه نه شته او له دې سره اړیکوی هم اړیین دی، چې هغه هم نه شته، نو وبه لیکو) په ټوله کښېیا یواځې راته ډېرو ګرانو د م ک ملګرو لوی څښتن مو راته روغ لره. د دې به بخښنه کړی، چې د تاسو یو اند او د ما بل اند دی.زه به دا خپل اند داسې روښانه کړم:

